**موضوع : دتعليم حق ته (داسلامي شريعت او وضعي قوانينو) له انده لنډه کتنه**

**راټولونه: صاحب الله ((رحيمي))**

**اړيکي شمېره: (+93786060179)**

**برېښناليک : sahibullahrahimi@gmail.com**

**کال: ۱۴۰۱هـ ، لمريز**

---

## بسم الله الرحمن الرحيم

### بخښنه او کوروداني

داچې بغير دالله تعالى څخه هيڅ انسان پوره او مکمل نه دی او ترځنګ يې علم درياب دی او نه خلاصيدونکې دی نو په همدې خاطر دهرکار شروع سخته وي ، دا چې دا زما لومړنۍ ليکنه او راټولونه ده نو حتمن به نيمګړتياوې او اشتباهات په دې ليکنه کې موجودې وي ، نو ستاسو ټولو لوستونکو څخه مې هيله ده چې ترڅو نيکې مشورې راکړئ او ماته خپلې نيمګړتياوې راپه ګوته کړئ ترڅو ستاسې تشويق ما ته لا انرژي راکړي ترڅو په راتلونکې کې ديته ورته نورې ګټورې ليکنې او راټولنې وکړم .

Ketabton.com

په درښت

صاحب الله (رحيمي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک (فهرست)

سرليک :.........................................................................................................مخ

سريزه........................................................................................ 1

د موضوع اهميت........................................................................ 2

د موضوع هدف......................................................................... 2

د موضوع پوښتنې....................................................................... 2

د موضوع فرضيه........................................................................ 2

د څېړنې تګلاره.......................................................................... 2

لومړې فصل

دتعليم حق  د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو له نظره

لومړئ برخه : عمومي معلومات.............................................................. 3

لومړې مبحث: دتعليم او تربيې معنى او مفهوم.............................................. 3

لومړې مطلب : تربيه ( روزنه ) ............................................................... 3

دويم مطلب: تعليم (ښوونه) ..................................................................... 4

دريم مطلب: دتربيې اصول........................................................................ 5

څلورم مطلب: دتربيتي اروا پوهنې له نظره زده کړه......................................... 6

پنځم مطلب : د اسلامي علماوو له نظره دعلم ډولونه......................................... 11

دوهمه برخه : په اسلامي شريعت  کې دتعليم حق

لومړې مبحث: په قرآن کريم کې دتعليم حق.................................................... 16

لومړې مطلب : قران کريم کې دتعليم حق...................................................... 16

دويم مطلب: د احاديثو له نظره دتعليم حق..................................................... 18

دريېمه برخه : په وضعي قوانينو کې دتعليم او تحصيل حق ته لنډه کتنه

لومړې مبحث:دافغانستان د (۱۳۰۶ل) اساسي نظامنامه کې دتعليم او تحصيل حق............. 29

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم مبحث: دافغانستان (۱۳۴۳هـ ش) کال اساسي قانون کې دتعلیم او تحصیل حق............ 31
دریم مبحث: دافغانستان د( ۱۳۵۵ هـ ش) کال اساسي قانون کې دتعلیم او تحصیل حق .......... 32
څلورم مبحث : دافغانستان د( ۱۳۸۲ هـ ش) کال د اساسي قانون کې دتعلیم حق...................... 33
اووم مبحث : دښځو دحقوقو غیر اسلامي قانون کې دتعلیم او تحصیل حق.......................... 37
شپږم مبحث : دبشرحقوقو نړیواله اعلامیه کې دتعلیم اوتحصیل حق................................. 39
اووم مبحث: داقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقوقو دنړیوال میثاق کې دتعلیم او تحصیل حق.......... 39
اتم مبحث: د بشر د حقوقو اسلامي اعلامیه کې دتعلیم او تحصیل حق................................ 40
نتیجه ګیري.............................................................................................. 41
اخځلیکونه.............................................................................................. 44

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

انسانان د ژوند له پیل څخه پدې هڅه او هاند کې دي چې وکولای شي د ژوند چارې په خپله ترسره کړي او له دې ور ها خوا د نورو سره هم همکاري وکړي. په لومړنیو وختونو کې انسانانو خپلې ټولې چارې په یوازې ځان سرته رسولې او د نورو سره د همکارۍ یا د نورو څخه د مرستې غوښتنې روحیه پکې نه وه موجوده پدې وخت کې انسانو انفرادي ژوند درلود او لا ټولنیز شوي نه و، خو د وخت په تېرېدو سره یې په یوازې ډول د ژوند د ټولو چارو له ترسره کولو څخه ځان عاجز ولیده او مجبور شول تر څو د نورو په مرسته او په ګډه سره ژوند پرمخ یوسي. همدا وه چې انسانان ټولنیز شول او ټولنیز ژوند ته یې مخه کړه.

په ټولنیز ژوند کې مجبور شول چې ځان په یوه برخه کې د ټولنې د خدمتګار په توګه را څرګند کړي تر څو وکولای شي د خپل ځان په څیر د نورو انسانانو لپاره یې د متقابل عمل ظرفیت پیدا کړی وي. خو ددې سره سره ځیني داسې انسانان هم شته چې د خپل ژوند په اوږدو کې تر ډېره نورو ته اړ وي او نشي کولای خپلې چارې پخپله پرمخ یوسي، دا ډول خلک تل د نورو مرستې او همکارۍ ته اړمن وي او د ټولنې د نورو افرادو وجیبه ده چې د دې ډول خلکو سره چې بې تعلیمه ورته ویل کېږي مرسته وکړي.

ددې ترڅنګ دوی بیا هم دهمدې بې تعلیمې څخه علاوه بیا په ځینو برخو کې مسلکې کسبونه یاد کړل چې دا یې ترټولو ښه لاره ده چې دهمدې لارې بیا دوې کولای شي چې د خپلو کورنیو غړو ته د رزق وسیله وګرځي چې دهمدې لارې دوې هم وغوښتل ، په خپلو بچېانو باندې تعلیم وکړي ترڅو هغوئ ددې کړاوونو سره مخ نشي او دوطن دښیرازې او سوکالۍ لپاره د خدمت مصدر وګرځي. داچې تعلیم یا ښوونه او روزنه یو حق دی چې الله تعالی په اړه په قران کې هم په پراخ ډول سره یادونه کړې ده او همدارنګه په وضعي قوانینو کې یې هم په صراحت سره ذکر شوې دی نو باید هیڅ یو نظام د یو هېواد وګړي د تعلیم څخه منع نه کړي باید داسلامي نظام په چوکاټ کې او داسلامي نظام داصولو سره سم د نارینه او ښځینه وولپاره د تعلیم زمینه برابره کړي چې اودیوهېواد مشر یا خلیفه دا مسئولیت لري چې د خپل هېواد د وګړو د ازادیو او حقوقو ساتلو لپاره زمینه برابره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د موضوع اهميت**

دا چې دتعليم يا دښوونې او روزنې حق د يو هېواد د خلکو له ژوند سره نه شلېدونکې اړيکه لري نو بايد د دوي په خوښه د اسلامي اصولو سره برابر د دوی لپاره دښوونې او روزنې حق ورکړل شي. د دې ليکنې اهميت پدې کې ده چې لوستي به په هېواد کې ډير شي او هغه حق چې ديو هېواد دپرمختګ او د نورو سره دسيالۍ يو دلومړنيو ګامونو څخه شمېرل کېږي ترلاسه کړي او په واک کې خلک به د ښوونې او روزنې دحق دورکړې په برخه کې لا هڅاند شي.

**د موضوع هدف**

د دې موضوع اساسي هدف داده چې و پوهېږو ديوې ټولنې افراد دتعليم يا دښوونې او روزنې په برخه کې کوم حقوق لري او څنګه ورڅخه ګټه اخستلای شي.

**د موضوع پوښتنې**

تعليم څه مانا او ډولونه يې کوم دي؟

د تعليم يا دښوونې او روزنې حقوق څه مانا ؟

په اسلامي شريعت او وضعي قوانينو کې د تعليم حق څخه ګټه اخيستنه څه ډول ده؟

**د موضوع فرضيه**

زما په آند چې د تعليم يا دښوونې او روزنې په برخه کې ډيرې دولتونو يوازې دکاغذ پرمخ اسناد برابر کړي خو څرنګه چې لازم دي او په اسلام او نورو وضعي قوانينو کې ويل شوی دي هغسې زمينه يې نه ده برابره کړې او نه يې هغسې قدم اوچت کړی دی .د نړی په زياتو هېوادونو په ځانګړي ډول د درېيمې نړی هېوادونه چې افغانستان هم يو له هغو هېوادونو څخه دی د تعليم اړوند چارې ترډېره دداسې اشخاصو او زورواکو او لاسپوڅو ترسيورې لاندې راغلي دي چې دتعليم حق اويا هم دښوونې اوروزنې سويه يې دنورو په لمسون بيخي ټيټې درجې ته راښکته کړې ده . چې دتعليم حق داسلامي اصولو په اساس ورکول به د نظام په استحکام کې ډېر اغيز ولري.

**د څېړنې تګلاره**

زما دا څېړنه کتابتوني ده چې د ډېرو معتبرو منابعو څخه پکې ګټه اخيستل شوېده. د دې څېړنې منابع قران کريم ، قوانين او نړيوال تړونونه او همدارنګه معتبر کتابونو څخه ګټه اخېستل شوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## دتعلیم حق داسلامي شریعت او وضعي قوانینو له نظره

داچې د تعلیم په اړه په خورا وضاحت سره لومړی په قرآن کریم کې او په احادیثو کې په بار بار، سره یادونه شوې ده او ددې ترڅنګ بیا ځینو نړیوالو قوانینو او زمونږ په ځینو ملي قوانینو کې هم ورڅخه یادونه شوېده چې په لاندې ډول به یې په بیلابېلو برخو سره تربحث لاندې ونیسو.

### لومړۍ برخه : عمومي معلومات

### لومړی مبحث: دتعلیم او تربیې معنی او مفهوم

ددغو اصطلاحاتو کارول په یوې ځانګړې معنا دلالت کوي، دواړه سره لازم او ملزوم دي، په معنا او مفهوم کې یو بل غني کوي، که چېرته یو له دغو دوو اصطلاحګانو څخه نه وي دغه بله اصطلاح د معنا، مفهوم او درک له لحاظه کمزورې ده، نو باید په پوهنه او پالنه کې له دواړو اصطلاحاتو څخه برابره ګټه واخیستلای شي او هر یوه ته ځانګړې پاملرنه وشي،تعلیم زیاتره د فکر د تغیر، د لید د بدلون، د نوښتونو د رامنځته کولو، د پنځونو، نوو پیدا کونو استدلال، د ژبې په فصاحت، د ژبې په بلاغت، ښه لوستل، ښه لیکل، ښه غوږ نیول، په ځیرتیا سره فکر کول دي چې ډېره برخه د انسان معنوي او یا ددنني برخې پورې اړه لري، همدارنګه تربیه بیا د انسان فزیکې روزنې، د انسان سلوک، رفتار، عمل، سلیقې، ناستې ولاړې، حرکاتو، خوراک څښاک، فرهنګ، کلچر، اخلاقو او ادابو پورې نېغ په نېغه اړیکې لري.[1]

### لومړی مطلب : تربیه ( روزنه )

په لغت کې د روزلو او پاللو په معنا دی، همدارنګه د بېلابېلو ژبو په ادبیاتو کې تربیه د انسانانو، څارویو او وښو د روزلو په معنا هم راغلې ده، واښه د څارویو په خېر د ګرځېدو، قدم وهلو او غږ ایستلو وړتیا او استعداد نلري او دا هم یو الهي نعمت دی، مګر د غوړېدو او لوېدو استعداد او وړتیا بیا لري چې دا غوړېدا او لوېدا خپله وښو لپاره کوم ځانګړی ارزښت نلري، بلکې دا انسان دی چې دې مطلوب ارزښت پسې ګرځي.[2]

---

1: اصول تعلیم و تربیه اسلامي، بخش اول، پایګاه جامع استاد شهید مرتضی مطهري.

2: هدف زده کړه او برى، محمد ابراهیم شینواری، دویم مخ، ۱۳۹۵ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تربیه د انسان لپاره ژور او پراخ اهمیت لري او په انسان کې د فعالیت د رامنځته کولو سبب ګرځي، دا تربیه کله هم اشنایي او پوهنیزه جنبه لري چې د انسان د پوهې، پېژندنې او پوهاوی اړوند موضوع کېږي. کله هم حرکتي او کششي جنبه لري چې د انسان د عیني رفتارونو او اعمالو چې د انسان د ظاهري جسم پورې تړاو لري اړوند مسله کېږي او کله هم عاطفي جنبه لري چې د انسان، ذهنیت، اعتقاد، ایمان، علاقې، احساساتو، هیلو او غوښتنو پورې اړه لري. تربیه د انسان د ژوند په بهیر کې مهم او بنسټیز رول لري، هر څوک په یو ډول نه یو ډول ورڅخه برخمن دی، نو په همدې اساس دغه مفهوم د فیلسوفانو، پوهانو، روڼ اندو، سوله غوښتونکو شخصیتونو، لیکوالانو او ان تر دې چې د شاعرانو د پام وړ ګرځېدلی دی او هرې ډلې ددې کلمې د څنګه والي، څرنګوالي، ارزښت او رول په اړه بحثونه کړي او مقالې یې لیکلي دي او مثمره ګټه یې هم ترې اخیستې ده. د انسان تربیت د هغه د پیدا ینبت له ورځې څخه پیل کېږي، ترڅو ژوند وکړي او د ژوند په خوند او رنګ پوه شي، ژوند تعریف کړي او له دغې لارې خپل مسیر وټاکې، انسان چې ترڅو ژوندی وي تربیې ته اړتیا لري، پوښتنه دلته پیدا کېږي چې ایا ژوند یوه محدوده پدیده ده؟ د انسان ژوند بېلابېلې برخې لري د ساري په توګه: جسمي، رواني، ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي چې دا هره برخه د روزنې په برخه کې ځانګړی ارزښت او ځای لري. په پای کې ویلای شو چې د تربیت منلی او د ټولو اړخونو له لوري قبول شوی تعریف ډېر سخت دی، ځکه هر فیلسوف، هر مفکر، هر متخصص او هر عالم د خپل لیدلوري پر بنسټ ورته تعریف لري.چې مونږ دنومړې تعریفونو څخه دموضوع داوږدوالي په اساس صرف نظر کوو.[3]

## دویم مطلب: تعلیم (ښوونه)

په لغت کې د زده کړې، پوهاوی او یا هم یو چاته د څه ورکولو په معنا دی، تعلیم اصل کې هغه هڅه ده چې ښوونکی زده کوونکو ته یو سلسله پوهه، ارزښتونه او خاص مهارتونه ور انتقالوي او یا هم په بل عبارت د ښوونکې له لوري زده کوونکو ته د عملي او نظري معلوماتو لېږد ته تعلیم او یا هم زده کړه وایي. په ټوله کې د یو انسان په عمل او سلوک کې تغیر راوستلو ته ښوونه او روزنه وایي.[4]

---

3: هماغه ماخذ،هدف زده کړه او برى، محمد ابراهیم شینواری،۱۱ مخ، ۱۳۹۵ ل کال .

4: https://taand.com/main/?p=137458

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریم مطلب: دتربیې اصول

همدارنګه تربیې لپاره یو سلسله منطقي اصول هم شته، که چېرته رعایت شي ښه اوږدمهاله نتیجه به په لاس راشي مثلا: که یو څوک سم وروزل او وپالل شي، حقیقت ومني او پدې هم پوه شي چې حقیقت ویل د یوه شخصیت د قوي کېدو، ښکارکېدو، ځلېدو او لوړېدو سبب ګرځي دغه پېژندنه به نوره هم عمیقه او اوږدمهاله شي، د خلکو او ولسونو په منځ کې به ځانګړې شهرت پیدا کړي، ټولنه کې به هر څوک ورته په درنه سترګه ګوري، له ډېرو ستونزو او ننګونو څخه به وژغورل شي، خبرې به یې خاص تأثیرات پیدا کړي، هر څوک به یې له ده نه اوري، زده کوي به یې ترې، مګر دا ټول پړاوونه یو سلسله تعلیمي او تربیوي اصولو ته اړتیا لري چې په لاندې توګه به پرې رڼا واچوو:

۱. په تعلیم او تربیه کې مهم اصل د ضرورت درک کول او پېژندل دي، هر سړی باید د خپل شخصیت او پېژندنې په اړه درک ولري او کوټلي ګامونه پورته کړي د تعلیم او تربیې په اړه بې پروايي د انسان د فکري او فزیکي استعداد د ودې د تباهۍ سبب ګرځي.

انسان باید دې ته پاملرنه وکړي چې تعلیم او تربیه د ژوند قانون او د هغه د پرمختګ د څنګه والي کمال دی تعلیم او تربیه ددې لامل کېږي چې انسان حق له باطل څخه بېل کړي، په حق ټینګار وکړي، حق غني کړي، حق ته تبلیغ وکړي، حق په استدلال، منطق او مستنداتو وګټي، د باطل مخه ونیسي، باطل ته نه ووايي، په اړه یې مدلل وي، احساساتي نشي، قانع کوونکې عقلي او نقلي د لایلو سره د مبارزې میدان ته ووځي، د نقد، تاید او رد جرات ولري او پدې اړه یې نسبت بل هر چاته دریځ ښکاره وي.

۲. همدارنګه که نړۍ له یوه قانون څخه پیروي کوي انسان هم نړۍ سره برابر ځانته په ژوند کې یو سلسله اصول، قوانین، لوایح او مقررات لري چې د هماغه پر بنسټ خپل ژوند او نورو ته د ښه ژوند کولولارې چارې ښیي، ددې اصولو او قوانینو پر وړاندې بې پروا پاتې کېدل دانسان د بې لارۍ سبب کېږي، قوانین، لوایح، مقررات او طرزالعملونه د انسان ژوند د غوره والي، د هر فرد د حقونو د خوندیتوب، ازادۍ، حق پېژندنې، حق پالنې، نورو ته ددرناوي، حدودو پېژندلو، ګډ مدني ژوند کولو او په ټوله کې د یوه نېکمرغه او خوشحاله ژوند کولو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړېږي. [[د اسلام سپېڅلي دین انسان ته ستر امتیازونه ورکړي دي ان تردې چې الله ج انسان ته پر ځمکه خپل خلیفه ویلی دی. ژباړه، او هغه زمانه یاد کړه چې ستا پروردګار پرښتو ته وویل: په یقین سره چې زه په ځمکه کې یو ځای ناستی ټاکم.[االبقره:۳۰]. نو الله ج انسان ته ډېر عزت ورکړی دی او هغه ته یې د ژوند ټولې ښېګڼې او اسانتیاوې برابرې کړې دي.

۳ـ تعلیم او تربیه باید مشخص هدفونه ولري، ترڅو د پوهې، تحلیل، تجزیې، محصول، ارزونې او اندازګیرۍ وړ وي.[5]

**څلورم مطلب: دتربیتي اروا پوهنې له نظره زده کړه**

زده کړه (په انګلیسي که ورته( Education) وایي چې زده کړه د تربیتي اروا پوهنې په برخه کې یوه مهمه موضوع ده،چې په ورځني ژوند په ځانګړې توګه د ښوونې او روزنې په برخه کې ډېره مهمه او له ارزښت څخه ډکه ونډه لري. د اروا پوهنې اونورو پوهانود نظرونو په پام کې نیولو سره هرهغه کړنه چې د انسان څخه صادرېږي دهغې لامل زدکړه ګڼل کېږي. انسان د زده کړې په مرسته کولی شي په خپل ژوند کې ستر بدلونونه رامینځ ته کړي. انسانان دزده کړې پرمټ توانېدلي دي، چې د بشرد ودی اوپر مختګ د لارې خنډونه له خپلې لارې څخه لرې کړی او دا نړۍ په یوه پرمختللې نړۍ بدله کاندي، چې داړیکو او لېږد رالېږد ډېر پرمختللي وسایل یې ښه بېلګه ګڼل کېدای شي. ددې له پاره چې پوه شو چې زده کړه څه ده او څه ته ویل کېږي په لنډه توګه څو شیبې دلته ورته تم کېږو.

زده کړه هغه بدلون ته وایي چې په یو ژوندی موجود کې رامېنځ ته کېږي اونېغ په نېغه دلیدلو او اندازه کولو نه دی، خو په کړنه کې له بدلون څخه معلومېږي او کېدای شي چې دهغې اټکل وشي . بدلون په دی مانا دی چې یو کس کوم شي زده کړی نه وي اودهغه دمخکښنۍ پوهې سره توپیر ونه لری نو زده کړه نه ترسره کېږي. زدګړې ته دبېلابېلو کارپوهانو او دنظر دخاوندانو له خوا بېلابېل تعریفونه او پېژندنې وړاندې شوی دي، چې له دې ډلې څخه یو څو یې په لاندې ډول وړاندې کېږي :

---

5: انتشارات علامه محمد تقي جعفري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• زده کړه په کړنه کې بدلون دي.
• زده کړه داسې یوشی ده چې دکړنې لامل ګرځي چې نېغ په نېغه دلیدلو او اندازه کولو نده خو دکړنې دبدلون څخه څرګندېږي.
• زده کړه له یو کس څخه بل کس ته د علمي مفاهیمو لېږدول دي.
• زده کړه داسې یوه پوهه ده چې هغه دانسان په کړنه کې څرګندیږي.
• زده کړه یو کلک بدلون دی چې له تجربې څخه ترلاسه کېږي.
• زده کړه د اطلاعاتو ،معلوماتو او مهارتونو ترلاسه کول دي.[6]

او یا هم زده کړه = پوهېدل+ذهن ته سپارل+کار اخېستل (۱) زده کړه یوائې د ښوونځې په چاپېریال پورې تړلې نده بلکې زدکړه تل او په هر ځای کې ترلاسه او رامینځ ته کېدای شي. دبیلګی په توګه : کله چې یو ځوک بایسکل اویا هم موټر چلوی ،نو ویلې شو چې په پورتنیو حالتونوکې زده کړه رامینځ ته شوی ده. که څه هم ځینې خلک دا راز کړنو ته چه نېغ په نېغه د لوست او ښوونځی سره اړیکه نلري، زده کړه نه وایي ، حال دا چې زده کړه ډېر پراخ مفهوم لري او یوائې د ښوونځي په چاپېریال پورې منحصره نده. دیادولو وړ ده برسېره پر دې چې رشد او زده کړه له یو بل څخه اغېزمن دي، زده کړه هم په ببلابېلو لارو چارو سره ترسره کېږي او د انسان د ژوند له نورو اړخونو سره تړاوو لري. کله زدکړه عمدی ده مثلاً په یوه موضوع کې مطالعه کول، ځینې وخت زده کړه غیر عمدی ده لکه د ډاکتر له ستنې څخه د ماشوم ډار،ځینې وخت زده کړه د همغه کس له مینې او علاقې څخه اغېزمنه کېږي لکه له شعر سره دیو پېغلې دمینې پیدا کېدل، کله هم زده کړه د تفکر زېږنده ده لکه یو کس چې د یوې ریاضي موضوع له پاره د حل یوه ځانګړې لاره پېدا کوي او کله هم زده کړه له ډېر پخوالې او په ژوره توګه دموضوع له ستونزمنو برخو سره د آشنایې له کبله رامېنځ ته کېږي لکه په دې باندې پوهېدل چې د روان پوهنې په برخه کې نظریه ورکول کلونو کلونو علمی کارونو او د ښوونې او روزنې په برخه کې تجربې ته اړتیا لري(۲).[7]

---

6: https://www.nunn.asia/7977/د-ښوونې-او-روزنې-ارزښت/
7: https://www.nunn.asia/7977/د-ښوونې-او-روزنې-ارزښت/

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړۍ جز: دزده کړې پړاوونه

که څه هم د هر ډول مهارت، پوهې او لنډه دا چې د زدکړې زدکړه په بېلابېلو پړاوونو کې تر سره کېدای شي خو موږ دلته د درس د زده کړې په پړاوونو باندې غږېږو او هغه په څلورو پړاونو ویشو: - ادراک او پېژندل - پوهه او تحدید - حفظ او یادول - تکرار او بیا راګرځول (مراجعه)

### لومړې پراګراف: ادراک او پیژندل

که څه هم حسي ادراک او پوهه د معرفت او پېژندنې بنسټ جوړوی او ټول معلومات د حواسو له لارې ترلاسه کېږي ،خو ټول انسانان په دې کې سره برابر نه دي او د شیانو په معرفت او ادراک کې یو له بله سره څېنې توپیرونه لري. ځینې معلومات د سترګو له لارې، ځینې یې د غوږونو له لارې تر لاسه کوي او ځینې یې هم د پېژندنې له پاره له خپلو ټو حواسونو څخه کار اخلي.

### دویم پراګراف: پوهه او تحدید

کله چې یو زدکوونکی په بشپړه توګه په یوه موضوع باندې پوه شي،دهغې په تحدید باندې پېل کوی، د هغې غټې غټې ټکی او عنوانونه سره جلا کوی او غواړی چې حافظې ته یې وسپاري.خو دیادولو وړ ده چې دا تحدید هغه وخت کېږي چې په یوه موضوع باندې په سمه توګه پوه شي او دهغې آسانه او روښانه ټکې په خپل ذهن کې راټول کړي.

### دریم پراګراف: حفظ او یادول

د معلوماتو راټولول او په ذهن کې د هغې کښېنولو ته د حفظ عملیه وایي او دا هغه وخت بشپړ کېدای شي چې موږ په هغه معلوماتو چې راټولول یې غواړو په سمه توګه پوه شو. د یوې موضوع د حفظ کولو له پاره د درس په محتوا باندې ځان پوهونه،د توضیحي رسمونو او اشکالو ویستل، د ځانګړیو سوالونو شفاهي یا لیکلي ځوابونو لیکل ، د کتاب یا اړونده موضوع ټولې برخې لوستل، د موضوع د ټولو برخو یو له بل سره تړل، اورول او په ذهن کې ځای پر ځای کول د پام وړ ټکې جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم پراګراف: بیا راګرځېدل**

له تکرار یا بیا راګرځولو څخه موخه داده ترڅو یو زده کوونکی ټولو هغه شیانو ته چې تر اوسه یې زده کړی دي یو ځل بیا مراجعه وکړي او ور وګرځي چې دا په حقیقت کې د درس ویلو اصلي موخه ګڼل کېږي.

## دویم جز: په زدکړه باندې اغېزمن لاملونه

د یو شي زدکړه تر ډېره بریده د زدکړې تر شرایطو پورې هم اړیکه لري .بلوم چې د ښوونې او روزنې په برخه کې یو ستر عالم دی او دهغه ملګري دا خبره چې ځینې هغه کسان چې زدکړه کوي ښه دي او ځینې ښه نه دي، رد کوي خو دا چې ځینې یې په زر توګه او ځینې یې هم په پڅه توګه زده کوي تر غور لاندې نیولې ده. بلوم دا نظر داسې بیانوي هغه څه چې یو کس په نړۍ کې زده کوي د نړۍ ټول خلک په هغه صورت کې چې مخکېنې او روان مناسب شرایط ورته برابر شي کولی شي زده یې کړي. که څه هم ډېر لاملونه په زدکړه باندې اغېزمن دی خو یو څو یې په لاندې ډول وړاندې کېږي.[8]

**لومړی پراګراف: تیاری او چمتوالی**

زده کړه په هغه صورت کې په ډېره ښه توګه ترسره کېدای شي چې زدکوونکې له هر پلوه جسمي، عاطفي ،عقلي او داسې نورو زدکړې ته بشپړه آمادګی ولري دبېلګې په توګه که یو ماشوم د لیکلو د زدکړې له پاره په ګوتو کې لازمه وړتیا ، او عضلاتو او اعصابو یې په کافی اندازه وده کړې وي نو کېدای شي چې په ښه توګه زده کړه وکړلی شي او که نه نو زده کړه به ډېره ستونزمنه او ستومانه کوونکې وي. چمتوالی هم بېلابېل اړخونه لري کېدای شي یو کس د عقلی نظره چمتو وی ،خو له عاطفي پلوه آماده نه وي نو ځکه زده کړه هغه وخت په ښه توګه ترسره کېدای شي چې کس له ټولو پلونو څخه زدکړې ته چمتو وي.

**دویم پراګراف: دزدکړې انګیزه او هدف**

د زدکړې په بهیر کې د انګېزو له ډلې څخه یو هم زدکړې ته د زده کوونکی خپله میل او مینه وي. او دا کار نوموړې هڅوی. بل دا چې په زدکړه کې هدف پروت وي او له زدکړې څخه هدف روښانه وي او هدف لرونکی زدکړې ته ډېره اغېزمنه، ښه او غوره زده کړه ویلي شو.

---

8: یاد ، میراحمد ، (۱۳۹۳ ل) ، ښځه او تاریخ ، عبدالمجید مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریم پراګراف: تیر تجارب**

زدکړه د ودې په خبر له ماضی، اوس او راتلونکې سره تړلې ده او که څوک په راتلونکې کې زدکړه کوی نو اوسنۍ تجربه دهغې له پاره اساس ده یوکس هغه مهال واقعی مفهوم ترلاسه کولی شي چې دهغې په هکله مخکې ترهغې نه هم څه تجربه ولري ،نو ځکه د ښې زدکړې له پاره ښوونکې ته د زدکوونکی د تیرې مطالعه ډېره مرسته کولی شي.

**څلورم پراګراف: دزدکړې چاپیریال او ځای**

چاپېریال په زدکړه باندې ډېر اغېز لري مثلا فزیکی چاپېریال لکه نور، هوا ،دزکړې وسایل او داسې نور.له ډار څخه پرته ډاډمن چاپېریال، په چاپېریال کې مینه او عاطفه او داسې نور.[9]

**پنځم پراګراف: د ښوونکی د تدریس میتود**

لکه څرنګه چې چاپېریال په زدکړه باندې اغېزې لری همدارنګه ښوونکی او دهغې د تدریس مېتود هم د زدکړې په بهیر کې ډېر مهم شمېرل کېږي او ښوونکی ته لازمه ده تر څو زدکوونکی زدکړې ته وهڅوی او راوکاږي. دیادولو وړ ده که چېرې ښوونکې غواړې چې زدکوونکې یې کنجکاو او په یوه موضوع کې څېړونکی راشي نو باید په خپله دغه صفتونه خپل کړی ښوونکی د زدکونکو د زدکړې له پار ه دیوې بېلګې په توګه وي. ښوونکی ته لازمه ده تر څو د یو مفهوم په پوهولو کې له لازمې وړتیا او بېلابېلو لارو چارو او مېتودونو څخه کار واخلی تر څو زدکړه په اغېزمنه توګه ترسره شي. دبېلګې په توګه جان دیویې په دې باور دی چې هر کله چې یو ښوونکی یو مفهوم غواړی وړاندې کړی نو د لومړی ځل له پاره باید د یو ماشوم په څېر چې څنګه دا شي زده کوی ،فکر وکړی د ده په آند ماشوم ته دیو شي د زدکړې په خاطر باید ماضی ته ځیر شو چې انسانانو هغه په لومړېو کې څرنګه کشف او زده کړه چې ښه مثال یې د نیوټن په واسطه د ځمکې د جاذبې د قویې کشف یادولی شو چې دیوې منې د رالوېدو له لیدلو څخه یې د ځمکې د جاذبې قوه کشف کړه .[10]

---

9: طحان، مصطفی محمد،(۱۳۸۱ل) ښځه ددعوت په کاروان کې،پښتو ژباړه،حبیب الله وردګ،دچاپ ځاي کرکز نشراتي ټولنه.

10: القرضاوي، دوکتور یوسف، (۱۳۷۷ ل) په اسلامي ژوندانه کې دښځې مر کزیت،لومړی چاپ، ،پښور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### شپږم پراګراف: د کل او جز اړیکه

يعنې ښوونکی ته لازمه ده تر څو لومړی درس په کلي او عمومي توګه تشريح او توضيح کاندي او بيا په جزياتو باندې وغږېږي. وروسته له هغې څخه بيا د جز او کل ترمېنځ اړيکه واضحه او څرګنده کړي.

### اووم پراګراف: تمرين او تکرار

همدارنګه تمرين او تکرار د زدکړې په بهير کې ډېر رغنده رول لري، ځکه ډېر شمېر زدکړې دتکرار او تمرين په پايله کې رامېنځ ته کېدای شي او بس. لکه ديخ په سر لوبې يا موټر چلول او داسې نور . خو بايد تمرين او تکرار په داسې چاپېريال او شرايطو کې وی چې مناسب وي، نه دا چې د زدکونکې د خستګۍ او زړه سوړوالی لامل وګرځي. له پورتنيو څرګندونو څخه څرګندېږي چې يوې اغېزمنې زدکړې ته د لاس رسۍ په موخه او په ځانګړې توګه د ښوونځې په چاپېريال کې د مناسبو شرايطو برابرول، د ښوونکی له خوا د اغېزمن او مناسب مېتود کارونه او زدکړې ته د زدکوونکی چمتوالی او نور اړونده لاملونه د زدکړې په بهير کې د پام وړ رول لوبوی. نو ځکه لازمه ده تر څو د هېواد ګران ښوونکی يوې اغېزمنې زدکړې ته د رسېدو په موخه د توان تر بريده د زدکوونکو په روزلو او پاللو کې د هغې خيال وساتي تر څو وي چې دهېواد بچيان مو يوې ډاډمنې او هوسا راتلونکې ته د رسېدو په لاره کې دتل په شان ددوی له عالمانه لارښوونو څخه برخمن ووسي.

## پنځم مطلب : داسلامي علماوو له نظره دعلم ډولونه

په اسلامي شريعت کې دحکم او اړتيا له نظره علم او زده کړه په مطلق ډول فرض نه ده ، بلکې مختلف ډولونه لري چې داسلامي امت فقهاوو علم په لسو ډولونو باندې ويشلې دی چې په لاندې ډول تربحث لاندې نيسو .

### لومړی جز: فرض عين علم

دعقائدو علم ، دفرض عباداتو ، روژه ، لمونځ ، زکات ، حج او ددغو عباداتو داحکامو فرايضو ، واجباتو، سنتونو، مؤکد وي که غير مؤکد وي ، ددغو ارکانو او لوازمو زده کړه په نارينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښځه فرض دی ، اوپه زده کړه کې سره مساوي اوبرابر دی ، امام غزالي رحمه الله په خپل کتاب احياء علوم الدين کې دعلم النکاح زده کړه هم فرض عين ګڼلې ده او ويلې يې دي پرنارينه اوښځه دواړو باندې فرض دی چې په واده پورې اړوند مسائل لکه : مهر، نکاح، طلاق، رضاع، محرمات، حجاب، حقوق الزوجين، حقوق مصاهرة او نور هغه مسائل زده کړي چې په تدبير منزل او ازدواجي ژوند پورې اړوند دی، څو دقرآنکريم او سنت په رڼا کې کورنۍ نظام جوړ کړی شي، دغه راز علم التجارة: دسوداګرۍ علم پرنارينه او ښځه دواړو باندې فرض دی ، دقرض ، سود ، اجارې ، صنعت او اجرت او نور ګرد هغه شرعي مسائل زده کړی چې په سوداګرۍ پورې اړوند وي ، د طهارت دعلم زده کړه هم پردواړو فرض عين دی ، د نذر مسائل ، د قسمونو دکفارې ، ديت او نور هم پردواړو باندې داسې فرض دی لکه د زکات علم دحج ، صيام ، صلوة او عقيدې دعلومو زده کړه چې پر دواړو باندې فرض ده .[11]

## دويم جز: فرض کفايه علم

فرض کفايه هغه علوم دی چې دڅوکسانو په زده کړه يې دګرد امت مسئوليت رفع کېږي او هغه علوم په تجويد سره دقرآنکريم حفظ کول ، هغه نبوي احاديث حفظ کول چې شرعي احکام ورپکې بيان کړی شوی دی، دفقهې او اصول فقهې علوم، دعربي ژبې زده کړه او ادبي علوم، علم اعدادالجهاد ، دطب علم زدهکړه او حياکة (رختونه اوبدل) هم فرض کفايي علم دی ، نارينه او ښځه دواړه پکې مساوي دی، هريو يې زده کولی شي ، خو که دغه علوم يو هم زده نه کړي بيا نو پرګردو مسلمانانو يې زده کړه فرض عين ګرځېږي.
دغه راز امام غزالي علم المواريث، علم الحساب ، علم السياسة ، علم الفلاحة د (کرهڼې علم) او علم الخياطة هم فرض کفايي ګڼلې دی.[12]

## دريم جز : دتربية الاولاد علم

دکور دتنظيم اوسمبالښت علم تدبير المنزل د اولاد د روزنې ، دناموس او عرض (پت) دساتنې علم صرف دښځې له پاره يې زده کړه واجب ده ، دنارينه له پاره لازمي نه ده بلکې مباح ده .

11: احمدزی، زاهدي،(۱۳۹۲ل) ، دملګرو ملتونو دښځو دحقوقوقانون داسلام په تله ، اميرکروړ خپرندويه ټولنه. ۱۵۲ مخ .

12: احمدزی، زاهدي،(۱۳۹۲ل) ، دملګرو ملتونو دښځو دحقوقوقانون داسلام په تله ، اميرکروړ خپرندويه ټولنه. ۱۵۲ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

### څلورم جز: دسیاست علم

دنارینه له پاره اړین دی دښځې له پاره یې زده کړه فرض نه ده مګر که یې زده کړه وکړي ممنوع هم نه ده ، ځکه چې په ځینې سیاسي چارو کې یې ګډو او برخه اخیستل روا دی لکه سیاسي پناه ورکول ، نیکه مشوره ورکول او داسې نور هغه هم په خپل کور کې دننه خپلو محارمو ته که اړتیا ورته پیدا شي.

### پنځم جز: تعارضي علم الجهاد

دجهاد د علم زده کړه یوازې پرنارینه باندې فرض کفایي ده مګر دا د تعارضي جهاد حکم دی او دفاعي جهاد زده کړه پرښځو باندې مباح ده چې له ځان څخه دفاع وکړی شي، مګر فرضیت یې صرف دنارینه و له پاره ده هغه هم چې مسلمان ، بالغ او عاقل وي.

### شپږم جز: دفاعي جهاد

د دفاعي جهاد دعلم زده کړه پرنارینه او ښځې دواړو باندې لازمي ګرځولې شوې ده او داپه هغه صورت کې ده چې کافران پر اسلامي هېواد یرغل وکړي اود نفیر عام حکم متحقق شي.

### اووم جز: علم الانساب او علم التاریخ

دنسب پېژندلو ، تاریخ ، جغرافیه ، ساینس او نورو علومو زده کړه دنارینوو له پاره مستحب او مستحسنه ده دښځو لپاره اړینه نه ده که یې وکړي ناوړه هم نه ده ځکه چې دالله تعالی په کائناتو کې تفکر اوله تیرو امتونو څخه عبرت ترلاسه کول دواړو ته ګټه لري ، خو په دې شرط ښځې ته مباح ده چې په تدبیر منزل او تربیة الاولاد کې یې خنډ نه واقع کېږي.

### اتم جز: علم الاخلاق

داخلاقو دعلم زده کړه د هرنارینه مسلمان او مسلمانې ښځې له پاره اړینه ده ترڅو ښه او بد اخلاق وپېژني او ترمنځ یې تفکیک وکولی شي ، ښه اخلاق خپل کړئ اوله بدواخلاقو څخه ځانونه وژغورئ او په ګډه سره یوه فاضله او غوره ټولنه جوړه کړي.[13]

---

13: هماغه ماخذ، احمدزی، زاهدي،دملګرو ملتونو دښځو دحقوقوقانون داسلام په تله . ۱۵۵ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نهم جز: اکتسابي علوم**

اکتسابي علوم دوه ځانګې لري چې يوه يې په نارينه و پورې خاص کړې شوې ده او دوهمه ځانګه يې دښځو لپاره خاص کړې شوې ده ، دبيلګې په توګه هرډول وسله جوړول ، کانونه کېندل ، کرهڼه ، موټرچلول، الوتکې ، پورته کول او دغه دواړه جوړول او داسې نور هغه فنون حربي وي که اقتصادي چې په کولو کې يې ډير زحمت او ستړياوې، دښځې له جسمي جوړښت او حجاب اوعفت سره منافي وي دنارينه و له پاره مخصوص دی ، څرخی کول، خياطي، غالی، ليمڅي او ګيلم جوړول، خولۍ جوړول، ګلدوزي، جورابې اوداسې نور، او هغه فنون چې دسړيو له پاره ذکر شول ، (مُفتی به ) قول دا دی چې دښځو له پاره يې زده کړه ناروا ده ځکه چې دفتنې ويره ده . بلکې په اوس وخت کې فتنه او اجتماعي فساد ور پکې ده ، دغه راز ټيلفون ، ټيلګراف، ، ژورنالېزم، په راډيو او تلويزيون کې خبرونه خپرول هم د نارينوو له پاره مخصوص دی او ښځې ته روا نه دی ، او همدغه داسلام د معقول اوفطري دين او داوسني پرمختللي جاهلي تعليمی نظام ترمنځ توپير دی.

**لسم جز: ځينې نور مباح علوم**

ځينې نور داسې علوم دی چې يوازې دنارينوو له پاره دی لکه علم الابحار، علم الاصطياد ، عمل الرحالة ، دسياست علم ، علم السباحة يعنې د لامبوزني علم ، علم المواسم ، علم السيرة ، دغه علوم که څه هم دنارينه وو له پاره دي مګر دسيرة علم د دواړو له پاره ضروري ښودلی شوی دی، د موسمونو پېژندلو علم ، دلرغون پېژندلو علم او داسې نور دنارينوو له پاره ځانګړی کړی شوی دی.

**يوولسم جز: حرام علوم**

يوشمېر داسې علوم هم شته چې زده کړه يې دنارينه او ښځو دواړو له پاره شريعت حرامه ګرځولې ده .[14]

---

14: هماغه ماخذ، احمدزی، زاهدي،دملګرو ملتونو دښځو دحقوقوقانون داسلام په تله . ۱۵۶ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه : دسحر او جادو زده کړه ، برابره خبره ده که عقیدوي سحر وي او که عملي سحر وي ، لس واړه څانګې يې ناروا دي، دوهم علم الاصنام ، د بتانو جوړولو اوعکاسي زده کړه چې مصورې هم ورته ويلې کېږي ، علم الکهانة ، علم المنطق اودفلسفې نور علوم ، علم الموسيقي ، علم النجوم ، علم المناظره فقهاؤ مکروه ګڼلی دی ، دا دی دعلم اوزده کړې داسلام د سپيڅلي دين منصفانه حکم چې دنارينه او ښځې د زده کړې په اړه يې ورکړی دی او په دې اړه د لويديځ دجاهلې تعليمي نظام غندنه يې کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه برخه : په اسلامي شریعت کې دتعلیم حق

### لومړې مبحث: په قرآن کریم کې دتعلیم حق

علم ، پوهه لیک او زده کړه اندازه نلري او نه سرحدات او حدود لري او انسانان که نارینه وي اوکه ښځینه وي باید تل پدې هڅه کې وي چې یو څه زده کړي او دنویو معلوماتو لارې چارې ولټوي اوپیدا یې کړي ترڅو وکولای شي چې نوی معلومات په لاس راوړي.

همدارنګه علم معین او خاص وخت نلري، انسان د عمر په اوږدو کې په هروخت کې کولی شي چې علم زده کړي او دعمر ترپای پورې پدې هڅه کې وي چې یو څه زده کړي.

دعلم او زده کړې لپاره مناسب او غوره وخت دطفولیت اوصغارت مرحله ده خو داپدې مانا نه ده چې په نورو وختونو کې څوک علم نشي کولای بلکې غوره وختونه لري چې دصغارت له مرحلې څخه شروع کېږي او نهایت نلري.

علم محدودیت هم نلري خوپه اوس مهال کې یو څه مرحلې او درجې ورته ځانګړې شوي دي لکه له ښوونځي څخه شروع تردولسم ټولګي پورې او بیا لوړې زده کړې شروع کېږي لکه لیسانس ، ماسټري او ډاکټري .

انسان باید دژوند په هره مرحله کې هلې ځلې وکړي چې یو څه زده کړي او که څه یې زده وي مطالعه وکړي او نوي معلومات په لاس راوړي.

### لومړې مطلب : قران کریم کې دتعلیم حق

همدارنګه اسلام ښځې له تعلیمه نه منعه کو ي؛ بلکې لاډېري یې تشویقوي چې پخپله هم دین زده کړئ اونوروته یې هم وروښیئ. الله پاک فرمایي :فاسئلوا اَهلَ الذکرِ اِن کُنتُم لاَتعلمون .ژباړه : ځکه حضرت عائشه صدیقه (رضي الله عنها)ترټولولویه عالمه وه. خوددې غم یې هم خوري چې څوک دي په عزت داغ ونه لګو ي،څوک درته ضرر ونه رسوي، په ټولنه کې دي اعتبار زیانمن نشي اوته په یوه فتنه بدله نشې نوځکه ورته وايي چې  که په پوره امن او اسلامي ماحول اوطریقه دي سبق ویلاي شواي نوډاکتره شه ، انجینره شه ، معلمه شه اوداسي نور،اوکه دپورتنیو بلاوو خطرو بیا تاته تر بهروتلو په کورکې اوسیدل غوره دي؛ ځکه چې بیادي ترګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاوان ډیردي. الله پاک دوي ته د دې لپاره چې هم له فتنو خوندي وي او هم یې علم حاصل کړي وي ډیره ښه لاره په ګوته کوي او فرمايي:

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا.[15]

ژباړه : او تاسو زده کوئ د الله هغه ایتونه او حکمت(علم) چې ستاسو په کورونو کې لوستل کیږي، ببشکه الله ډېر باریك بین او ښه خبرلرونکې دي) .الاحزاب ۳۴ (په احکام القران ۲۱۷/۵ او مولانااشرف علي تهانوي د سئلوني کتاب ۳۹۱/۱مخ کې لیکې چې په دې ایت کې ښځوته داورښوول دي چې علم دي په خپل کورکې زده کوي.

خو کافران او ددوي ملګري د تعليم په نوم ښځي له کورو راباسي، په سکولونو کې ځواني نجوني او هلکان یوځاي سره اچوي ،ددوي حیا اوعزت ورختموي، دین او اخلاق یې ورتباکوي، دعزتمنو جامو پرځاي پتلون وراغوندي او داسي حالت جوړول غواړي چې ښځي او سړي دي سره ګډوي، مور،پلار،خور،ورور اونوردي نوي معلوم اولکه په ځنګله کې چې ځناور بې پردې ګرزي داسي دي مسلمانان هم سپک اوبې پردې وي.

همدارنګه زمونږ په ټولنه کې یو بل ظلم پرښځو باندې دادی چې دوې په مختلفو بهانو باندې دتعلیم څخه محرومولې شي لهذا دا پرښځو باندې یو ظلم او دټولنې د پرمختګ او اصلاح په وړاندې یو لويې خنډ او مانع دی ، بلکې ښځې دنارینه په شان مکلف دی چې دخپل دین اودنیا واجبات اوضروریات زده کړي او پرنارینه و باندې لازم دی چې ښځې او لورګانې او خویندې وغیره ته د دیني او اخلاقي مسئولیتونو په ورزده کولو کې خپل ټول کوشش او زیار وباسي ترڅو د کورنی څخه دناپوهی تیاره له مینځه لاړه شی اودعلم او عرفان رڼا یې په کورنی کې خپره او دتفاهم اومحبت او حق شناسي فضا قایم شي الله تعالی په دی باره کې داسې فرمايي:

((يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ . (٦).[16]

ژباړه : ای مؤمنانو تاسو خپل ځانونه او کورنۍ د اور (او دوزخ) څخه بچ کړئ چې خاشاک دهغې خلک او دګوګړو تیږې دي.

---

15: القرآن الکریم ، سورة الاحزاب ، ۳۴ نمبر آیات.

16: القران الکریم ، سورة التحریم ، ۶ نمبرآیات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو الله تعالی امر کړي دی چې خپلې ښځې او ځامن او لورګانې د اور د دوزخ څخه وساتئ او د دوې ساتنه داسې کېږي چې هغوئ ته صحیح تعلیم او سالمه تربیه ورکړي شي.[17]

نو معلومه شوه چې دښځو تعلیم او تربیه لکه دنارینه و په شان ضرور او لازم دی .

او په بل ایات کریمه کې الله تعالی داسې فرمایلي : ((وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ ٱلْأَقْرَبِينَ . ( ٢١٤ )).[18]

ژباړه : ای پیغمبره خپل نږدې خپلوان دالله د عذاب څخه وویروه . نو دا نه کېږي مګر دصحیح تعلیم او سالمې تربیې له لارې.[19]

او په بل آیت کریمه کې الله تعالی داسې فرمایي: ((وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ . (١٣٢ )).[20]

ژباړه : ای پیغمبره خپلې کورنۍ ته په لمانځه باندې امر وکړئ اودمونځ په ادا کولو باندې صبر وکړه .

نود پورتني مبارکو ایتونو څخه معلومه شوه چې ښځه حق لري چې هغې ته د پلار یا خاوند یا نورو خپلوانو په واسطه دیني او اخلاقي او اجتماعي ښوونه وشي او هغې ته لازم معلومات ورکړی شي.[21]

## دویم مطلب: داحادیثو له نظره دتعلیم حق

علم لکه څنګه چې په ټولو مسلمانانو نارینو او ښځینو باندې فرض دی همدارنګه ټول مسئولیت هم لري چې علم زده کړي او که چېرې انجونو ته له کوره بیرون شرایط برابر نه وي باید په کورونو کې له مور او پلار ، وروڼو او خویندو څخه زده کړې وکړي ترڅو خپله فریضه اداء کړي او بېسواده پاتې نشي، رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې هکله داسې فرمایلي دي:

حدیث شریف : ( طلب العلم فریضة علی کل مسلم . (رواه ابن ماجة)

ترجمه : طلب دعلم په هرمسلمان که نارینه وي او که ښځینه وي فرض دی . ددې حدیث شریف عبارت جمهور علماء کرامو داسې لیکلې دی:

---

17: همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد، (۱۳۸۶ ل) ، دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۶ مخ .

18: هماغه ماخذ، القران الکریم ، سورة الشعرا ۲۱۴ نمبر ایات.

19: هماغه ماخذ، همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد، دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۶ مخ .

20: پورتني ماخذ، سورة طه ، ۱۳۲ نمبرایات.

21: هماغه ماخذ، هماغه ماخذ، همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد، دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۶ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

( طلب العلم فريضة على كل مسلم ومسلمة )

ترجمه : طلب دعلم په هر نارينه مسلمان او په هرې ښځينه مسلمانې باندې فرض دی .

طلب د علم په هرمسلمان اومسلمانې فرض دی او هريو له دوی څخه مسئوليت لري چې علم او زده کړې وکړي اوپه سرکې له خپل دين څخه ځانونه خبر کړي.

له پورتنيو ټولو حديث شريف څخه څرګنده شوه چې دعلم او زده کړې په باره کې مسئوليتونه په لاندې ډول سره بيانېږي.

**لومړې جز : دعلم په برخه کې فردي مسئوليت**

هر فرد نارينه او ښځينه مسئوليت لري چې لوست او ليک زده کړي او په سرکې له خپل دين څخه ځانونه خبر کړي ، حرام او حلال وپيژني اوپه ټولنه کې ديوه نيک او صالح انسان په توګه ژوند وکړي او نور خلک هم علم او زده کړې ته راوبولي.

په قران کريم کې څومره مبارک اياتونه چې دعلم او زده کړې په باره کې راغلي دي په هغوکې نارينه او ښځينه دواړه شامل دي او يو شان برابر او مساوي دي اودغه حق الله تعالی خپلو ټولو بنده ګانو ته ورکړې دی او هيڅوک يې ورڅخه نشي اخستلای او هر هغه څوک چې په زامنو تعليم کوي او لورګانې له تعليم څخه محروموي ګناه کوي او الله پاک به دقيامت په ورځ کې سخته پوښتنه ورڅخه وکړي. اوپه سختو مجازاتو سره به يې محکوم کړي.

تعليم او زده کړه دهرانسان نارينه او ښځينه دواړو مسلم او شرعي حق دی اوهيڅوک نشي کولای چې له خپل شرعي حق څخه يې محروم کړي او هريو له دوی څخه حق لري چې خپلې ديني اودنياوي زده کړې وکړي اوله خپل شرعي حق څخه ګټه واخلي.[22]

**دويم جز: دتعليم په برخ کې دمور او پلار مسئوليت**

مور او پلار مسئوليت لري چې دخپلو اولادونو دبدني او روغتيايي روزنې په څنګ کې دهغوئ علمي او روحي روزنه هم وکړي اوپخپلو ټولو اولادونو زامنو او لوڼو باندې زده کړې وکړي اوهغوئ علم ته متوجه کړي او لانديني امور زده کړي.

22: پاچا ، سيدهاشم هاشمي ، (۱۳۹۲ل) دښځو حقوق دشريعت په رڼا کې، دانش خپرندويه ټولنه ، ۴۹- ۵۰ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لومړی پراګراف: دسالمې عقیدې پېژندل**

مور او پلار مسئولیت لري چې خپل اولادونه زامن او لوڼې په شرعي او سالمې اسلامي عقیدې سره وروزي او له ټولو انحرافاتو او خرافاتو څخه یې وژغوري اوپه غوره توګه سره یې تربیه کړي ترڅو په ټولنه کې دنیکو انسانانو په توګه ژوند وکړی او دخپل دین ، هېواد او ولس خدمت وکړي.

**دویم پراګراف: په غوره طریقې سره دعبادت ورزده کول**

مور او پلار مسئولیت لري چې خپلو ټولو اولادونو نجونو او هلکانو ته په سالمې اوصحیح طریقې سره عبادات ورزده کړي او په شرعي توګه ټول مسایل ورته یاد کړي ترڅو خپل عبادات په ښه شان سره اداء کړي او نیت یې خاص دالله تعالی لپاره وي او له ریاء څخه پاک او خالي وي.

**دریم پراګراف: دعباداتو فضایل**

مور اوپلار مسئولیت لري چې خپلو ټولو اولادونو نارینه او ښځینو ته دعباداتو فضایل ورزده کړي اوله رزایلو څخه یې لرې کړي ، دژغورنې لارې ورته په ګوته کړي اوله مهلکاتو څخه یې وژغوري اودهغوئ ذهنونه روښانه کړي .

**څلورم پراګراف: دحقوقو ورښودل**

مور اوپلارمسئولیت لري چې خپلو اولادونو نارینوو او ښځینو ټولو ته حقوق ورزده کړي ترڅو دخپل ځان ، کورنۍ ،مسلمانانو او ټولو انسانانو حقوق وپېژني او مراعت یې کړي او دهیچا حقوق غصب اوتلف نکړي اوپه ټولنه کې نه یوازې دا چې دنیکو انسانانو په توګه ژوند وکړي بلکې دهر چا حق او حقوق پخپل حد او حدودو کې سرته ورسوي.[23]

## دریم جز : د دیني علماوو مسئولیت

د دین علماء کرام مسئولیت لري چې خلک پدې پوه کړي چې علم په ټولو خلکو نارینوو او ښځینوو باندې فرض دی اوهریو له دوی څخه مسئولیت لري چې خپل فرض په غوره توګه سره اداء کړي.

---

23: هماغه ماخذ، پاچا ، سیدهاشم هاشمي ،دښځو حقوق دشریعت په رڼا کې، ۵۰ – ۵۱ مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماء کرام باید خلک علم او زده کړې ته تشویق کړي او پلرونه خپلو مسئولیتونو ته متوجه کړي چې پخپلو زامنو او لورګانو باندې زده کړې وکړي او یو هم بېسواده پاتې نشي.
علماء کرام باید خلک علم او زده کړې ته تشویق کړي او پدې یې پوه کړي چې علم فرض دی او په خپلو ټولو خطبو کې علم او زده کړې ته یوه برخه ورکړي ترڅو خلک علم ته مخه وکړي او په ځانګړي توګه انجونې چې له هلکانو څخه هم علم او زده کړې ته زیات ضرورت لري ترڅو په کورني ژوند کې دخپل خاوند او اولادونو حقوق په غوره توګه سره پرځای کړي.
لکه : دجمعې په ورځ ، داخترونو په ورځو کې ، په غونډو او مجلسونو او دجنازې ، فاتحې په مراسمو کې.[24]

**څلورم جز : دتعلیم په برخه کې د دولت مسئولیت**

دولت دملت په وړاندې ډېر مسئولیتونه لري چې یو له هغو مسئولیتونو څخه هم تعلیم او زده کړه دی چې دخپل ملت لپاره دتعلیم او تحصیل زمینه او اسانتیاوې برابره کړي.لکه د جوماتونو دخطیبانو په واسطه ، د قومي او ولسي مشرانو، اخبارونو او مجلې ، غږیزې او انځوریزې رسنۍ او قانون له لارو کولای شي چې نوموړي کارونه ترسره کړي.

**پنځم جز : قانوني لارې چارې**

دولت مسئولیت لري چې دخپل ولس لپاره داسې قوانین تصویب کړي چې دتعلیم لپاره یو معین حد وټاکي او ترهغه حده پورې په انجونو او هلکانو ټولو باندې تعلیم جبري کړي چې په نړۍ کې په بیلابیلو هېوادونو کې دغه کارمروج دي چې حداقل یې تر(۸) صنف پورې دي او حداکثر یې تر ۱۰ صنف پورې دي چې له دې حده پورې جبري دی اولدې وروسته اختیاري دي اوزیات خلک خپلې زده کړې په مخ بیايي اوتر ټولو لوړو زده کړو پورې ځان رسوي اوپه خپله خوښه په یوه برخه کې تخصص ترلاسه کوي ترڅو د ولس لپاره خدمت وکړي.
په هېواد کې حکومت چې اکثراً د ولس لخوا په مستقیمو اویاغیرمستقیمو رایو سره ټاکل کېږي باید دژوند په هره برخه کې دخپلو خلکو لپاره سهولتونه او اسانتیاوې برابرې کړي اوتل د ولس په خدمت کې وي او هیڅ ډول دریغ ونکړي او خپل ولس ته په غېږ کې ځای ورکړي.

---

24: هماغه ماخذ، پاچا ، سیدهاشم هاشمي ،دښځو حقوق دشریعت په رڼا کې، ۵۰ - ۵۱ مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې کې شک او شبه نشته چې تعلیم په ښځینو او نارینوو باندې یو شان فرض دی خو شرایط یې یوله بل سره توپیر لري او دنارینوو لپاره سهولیتونه او اسانتیاوې زیاتې وي نظر ښځینوو ته نو په دې اساس سره دولت مسئولیت لري چې دانجونو لپاره دتعلیم شرایط برابر کړي او دهغوئ لپاره بیل او ځانګړې مکتبونه اومدرسې جوړې کړي ترڅو هغوئ زده کړې وکړي.

همدارنګه دولت مسئولیت لري چې دښځو لپاره دلوړو زده کړو زمینه او اسانتیاوې برابرې کړي ترڅو هغوئ له تحصیل څخه محرومې نشي او خپلې عالي زده کړې په ښه شان سره ترسره کړي اوپه دې لاره کې موانع باید له منځه لاړې شي.

دښځو دتعلیم او تحصیل لپاره شریعت ځنې اصول او مقررات وضع کړي دي چې دولت یې باید دهغوئ لپاره مساعد کړي ترڅو له تعلیم او تحصیل څخه محرومې پاتې نشي.

**لومړې پراګراف: ځانګړي مکتبونه**

دولت مسئولیت لري چې دانجونو لپاره ځانګړي مکتبونه جوړ کړي ترڅو هغوئ له هلکانو څخه بیلې وي اوتعلیم باید مختلط او ګډ نه وی.

**دویم پراګراف: شرعي حجاب**

دولت مسئولیت لري چې دانجونو لپاره شرعي حجاب په رسمي توګه مقرر کړي او دیونفورم په شکل سره یې استعمال کړي اوکه ممکن وي د دولت لخوا ورته تهیه او برابر شي ترڅو انجونو ته تکلیف نه وي اودهغوئ په کورنیو باندې اقتصادي بوج نه وي.

**دریم پراګراف: ځانګړې پوهنتونونه**

دولت مسئولیت لري چې دښځینو لپاره مستقل پوهنتونونه جوړ کړي او که چېرې داممکن نه وي نوبیا دې په صنفونو کې مشخص ځایونه ورته تعین کړي ترڅو ښځینه یوې خواته او نارینه بلې خوا ته کېني او ځایونه یې مشخص وي ځکه چې یو له بل سره ګډه ناسته مشروعیت نلري.

**څلورم پراګراف: په مسکن او مبیت کې بیلوالې**

دانجونو لیلیه او طعام خوري باید له نارینوو څخه بیله وي ، په یوځای کې ګډ اوسیدل اوپه یوه ځای کې ګډ طعام خوړل مشروعیت نلري او دولت مسئولیت لري چې دانجونو اوسیدلو ځای او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخوراک ځای له نارینوو څخه بیل کړي ترڅو هغوئ په ډاډه زړه سره خپل تحصیل ته دوام ورکړي او خپل تخصص په لاس راوړي.

**پنځم پراګراف: دامنیت ټینګول**

دولت مسئولیت لري چې دټول ولس لپاره امنیتي چارې برابرې کړي او په ځانګړې توګه دانجونو دښوونځیو لپاره ځکه چې په هره ټولنه کې نیکان او بدان وجود لري ترڅو هغوئ ته څوک ضرر او نقصان ونه رسوي.

**شپږم پراګراف: دترانسپورت وسایل**

دولت مسئولیت لري چې دښځینه محصلینو او استادانو لپاره دتګ راتګ وسایل برابر کړي ترڅو هغوئ په پوره ډاډ او اطمنان سره خپل تحصیل ته دوام ورکړي اوهم استادانې په سهولیت سره دتدریس لپاره لاړې شي.

دولت مسئولیت لري چې دخپلو ښځینه هېوادوالو لپاره پورتني اسانتیاوې برابرې کړي ترڅو په ټولنه کې هیڅوک له تعلیم او تحصیل څخه بې برخې او محروم پاتې نشي اونه دچالپاره بهانه پاتې شي چې زه خپله لور ښوونځي او یا پوهنتون ته نه لېږم ځکه چې اسانتیاوې برابرې نه دي.

دولت باید دشریعت په رڼا کې دښځو لپاره دتعلیم او تحصیل داسې زمینه برابره کړي چې خلک دتخویف پرځای تشویق شي اوخپلې لورګانې دتعلیم او تحصیل لپاره په خپلې خوښې سره ښوونځیو او پوهنتونونو ته واستوي او زده کړې وربانديې وکړي ترڅو د ټولنې په پرمختګ کې نارینه او ښځینه دواړه فعاله ونډه واخلي اوهم خپل فرض پرځای او اداء کړي.[25]

۱. جلیل القدر صحابي ابوسعید خدري رضی الله عنه روایت کوي چه ( قال النساء للنبی صلی الله علیه وسلم غلبنا علیک الرجال فاجعل لنا یوما من نفسک فوعدهن یوما لقیهن فیه فوعظهن آمرهن)) .[26]

---

25: هماغه ماخذ، پاچا ، سیدهاشم هاشمي ،دښځو حقوق دشریعت په رڼا کې، ۵۴ – ۵۷ مخ پورې.

26: ( بخاري جلد ۱ صفحه ۲۰ کتاب العلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه : نارینه زمونږ په نسبت له تا ځخه زیات وخت نیولی دی نو دځان له طرفه یو ورځ مونږ ته وټاکې (دتعلیم لپاره) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوئ سره یو ورځ وټاکله او ورته ورغی او هغوئ ته یې نصیحت وکړلو او په ښو کارو باندې یې ورته امر وکړلو.[27]

همدارنګه جلیل القدر صحابیه ام عطیة رضی الله عنه فرمایي (( امرنا رسول الله صلی الله علیه وسلم ان نخرجهن فی الفطر والاضحی العواتق والحیض وذوات الخدور فاماالحیض فیعتزلن الصلاة ویشهدن الخیر ودعوة المسلمین)) .[28]

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر کړي دی چې پیغلې او حائضه او دستر او پردې والا ښځې دوړوکی او لوې اختر دلمانځه لپاره د کورونو ځخه وباسو خو حائضه ښځې به لمونځ نه کوي البته دخیر او دعوت او تبلیغ په مجلس کې به ګډون کوي.[29]

او جلیل القدر صحابي عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوي: (( خرجت مع النبي صلی الله علیه وسلم یوم فطر او اضحی فصلی ثم خطب ثم اتی النساء فوعظهن وذکرهن وآمرهن بالصدقة ))

ترجمه : زه درسول الله صلی الله علیه وسلم سره د وړوکی یا لوې اختر په ورځ ووتم نو هغه د اختر لمونځ وکړلو او بیا یې خطبه وویلې او بیا دښځو صفونو ته ورغی نو هغوې ته یې وعظ او نصیحت وکړلو.

او هغوئ ته یې دصدقې امر وکړلو . او جلیل القدر محدث عبدالملک بن جریج دجلیل القدر تابعي عطاء رحمهما الله نه روایت کوي هغه فرمایي چې جلیل القدر صحابي جابر بن عبدالله رضی الله عنه داسې فرمایلې(( قام النبي صلی الله علیه وسلم یوم الفطر فصلی فبدآبالصلاة ثم خطب فلما فرغ نزل فاتی النساء فذکرهن قلت (القائل بن جریج) لعطاء اتری حقا علی الامام ذلک یذکرهن قال انه لحق علیهم ومالهم لایفعلون)) .[30]

---

27: هماغه ماخذ، همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد، دښځو دحقوقو ځخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۷ مخ .

28: ( رواه البخاری صفحه ۱۳۳ جلد ۱ ومسلم صفحه ۲۹۱ جلد ۱)

29: هماغه ماخذ، همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد، دښځو دحقوقو ځخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۷ مخ .

30: ( رواه البخاری صفحه ۱۳۳ جلد ۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه :نبي عليه السلام د وړوکې اختر په ورځ اول يې داختر لمونځ اداء کړ بیا یې خطبه وويلې او چې کله دخطبې نه فارغ شو نو دمنبر نه کوز شو او دښځو صفونو ته ورغی او هغوئ ته یې نصیحت وکړلو . ابن جریج فرمايلي دي چې ما دعطاء څخه پوښتنه وکړله چې آیا ستا په نزد په امام او مشر باندې لازم دی چې ښځو ته وعظ او نصیحت وکړي نو هغه په جواب کې وويلې چې هو پرامام دا کار لازم دی او څه وجه ده چې اوس خلکو دا کار پرېښې دی ؟ اوپه يو بل حديث شریف کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم جلیل القدر صحابیه شفاء رضي الله عنها ته وفرمایل : (( الاتعلمین هذه (حفصة) رقیة النملة کما علمتیها الکتابة)) .[31]

ترجمه : ای شفا ولې ته حفصی ته دتخرګونو د دانو دم نه ښائې لکه څرنګه چې هغې ته دې لیک ښودلی دی؟

ددغه حدیث څخه معلوم شو چې دلیک زده کړه لکه چې نارینه وته ضرور دی همدارنګه زنانه و ته هم ضرور دی اولکه چې نارینه دعلم زده کړه کوي او دکتابونوتألیف اوتصنیف له لارې خپل علم خپروي نو ښځې هم باید علم حاصل کړي/ او دتألیف اودتصنیف له لارې خپل علم خپور کړي ترڅو خلک د دوې دعلم څخه استفاده وکړي او دغه کتابونه د دوې لپاره صدقه جاریه وګرځي.[32]

امام خطابي رحمه الله دشفاء رضي الله عنها دحدیث په باره کې داسې فرمایي:

(( فیه دلیل علی ان تعلیم النساء الکتابة غیر مکروه)) .[33]

ترجمه : دغه حدیث شریف ددې لپاره دلیل دی چې ښځو ته دلیک زده کړه مکروه نه دی .

خوبعضې خلک وایي چې ښځو ته روا نه دی چې لیک زده کړي اودلیل کې یې دغه حدیث شریف ذکر کوي چې (( لاتعلموهن الکتابة)) .[34]

ترجمه : ښځو ته لیک مه ورزده کوئ.

خو دغه خبره غلطه ده ادمنعې دغه حدیث ثابت نه دی ځکه چې ددغه حدیث په سند کې یو دروغجن او بل په دروغو متهم راویان دی اوداسې حدیث مردود وي.[35]

---

31: (ابوداود صفحه ۵۴۲ مشکوة صفحه ۲۹۱)

32: هماغه ماخذ، همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد، دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۹ مخ .

33: (مرقات شرح مسکوة صفحه ۳۲۶ جلد ۸ حاشیة ابوداود صفحه ۵۴۲)

34: ( مرقاة صفحه ۳۲۷ جلد ۸ تذکرة الموضوعات صفحه ۱۲۹)

35: (تذکرة الموضوعات صفحه ۱۲۹ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي : (( ايما رجل كانت له جراية فادبها فاحسن تاديبها وعلمها فاحسن تعليمها ثم اعتقها فتزوجها فله أجران)) .[36]

ژباړه : هریو سړی چې وینځه ولري اوهغې ته ښائسته ادب او ښائسته تعلیم ورکړي اوبیا يې ازاده کړي او ځان ته يې په نکاح کړي نو دغه سړي ته دوه اجرونه دي. نو چې کله ديوې وینځې په تعلیم او تربیه کې دومره ثواب دی نو دیوې اصیلې مسلمانې ښځې په تعلیم او تربیه کې به ددې نه زيات ثواب او اجر وي.

او ام المومنين عائشة رضي الله عنها فرمايي: (( نعم النساء نساء الانصار لم يمنعهن الحياء ان يتفقهن فى الدين)) .[37]

ترجمه : د انصارو ښځې نيکې او بهترې ښځې دي ځکه چې هغوئ د دين په پوهه کې شرم او حياء نه کوي.

اوجليل القدر تابعي عروة بن الزبير رضي الله عنه فرمايي: (( ما رأيت احدا أعلم بفقه ولا طب ولاشعرمن عائشة )) .[38]

ژباړه : ما داسې هیڅ یو کس نه دی لیدلې چې دعائشة رضي الله عنها څخه په فقه او طب ، شعر کې ډير پوه وي. یعنې عائشة رضي الله عنها په علم فقه ، طب او شعر کې هغه اوچتې مرتبې ته رسېدلې وه چې دهغې په زمانه کې څوک ورسره برابر نه وه . ددغه روايت څخه دا معلومه شوه چې ښځې کولای شي په علم کې اوچتو مرتبو ته ورسېږي اومعلومه شوه چې ښځې کولای شي چې دطب دعلم زده کړه وکړي . او داهم معلومه شوه چې ښځه کولای شي داسې اشعار ولیکې او خپور يې کړي چې ديانت او خوش اخلاقي اوعفت ته دعوت کوي.

او جليل القدر صحابي ابوموسى رضي الله عنه فرمايي: (( ماأشكل علينا أصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم حديث قط فسألنا عائشة الا وجدنا عندها منه علما)) .[39]

---

36: (بخاري ج ۱ صفحه ۲۰ – ۳۶۴ باب تعليم الرجل امته واهله)

37: ( بخاری صفحه ۲۴ جلد ۱)

38: ( اسلامنا للسيد سابق صفحه ۲۱۶)

39: ( ترمذي صفحه ۲۲۷ جلد ۲ مشکوة صفحه ۵۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه : چې کله هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په صحابوو باندې دکومې خبرې پوهېدل مشکله شوه نو مونږ به دعائشة رضي الله عنها څخه دهغې په باره کې پوښتنه وکړله نودهغې سره به دمسالې په باره کې خامخا علم اوپوهه وه او مساله به یې حل او روښانه کړه .

نو ددغه حدیث څخه معلومه شوه چې دښځو څخه دنارینه و په زده کړه کې څه عیب نشته چې کله دشریعت دحدودو رعایت پکې وشي.

او امام ابن شهاب زهري رحمه الله فرمايي: (( لوجمع علم الناس کلهم وامهات المؤمنین لکانت عائشة أوسعهم علما)) .[40]

ژباړه : که دټولو خلکو علم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم دنورو بیبیانو علم یو ځای کړی شي بیاهم دعائشة رضي الله عنها علم ددې ټولو څخه زیات دی.

او امام ذهبي رحمه الله فرمايي: (( وما علمت من النساء من اتهمت ولا من ترکوها)) .[41]

ترجمه : دحدیث په ښځو راویانو کې ماته داسې ښځه معلومه نده چې دحدیث په روایت کې په دروغو متهمه شوې وي اویاد حدیث علماوو دهغې حدیث پرېښې وي.

ددې څخه معلومه شوه چې پخوا به دمسلمانانو ښځې دحدیث په زده کړه او روایت کې څومره کوشش او احتیاط کاوه خو اوس ډیرې مسلمانې ښځې قران هم نشي لوستلې .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله صحابه کرامو ته وعظ او نصیحت کولو نوبیا به یې هغوئ ته وویلې: (( الا فلیبلغ الشاهد الغائب)) .[42]

ترجمه : خبردار حاضر خلک دې زما خبرې غیرحاضرو خلکو ته ورسوي. په دغه حدیث کې دیته اشاره ده چې نارینه دې زما خبرې زنانو ته ورسوي ځکه چې زنانه به زیاتره په خپلو کورونو کې په خدمت کولو مشغولې وي.

---

40: ( مستدرک الحاکم صفحه ۱۱ جلد ۴)

41: ( میزان الاعتدال صفحه ۲ جلد ۱)

42: (بخاري صفحه ۲۱ جلد ۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه جليل القدر صحابي عرباض بن سارية رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل چې : (( ان الرجل اذا سقى امرأته من الماء أجر قال فاتيتها فسقيتها وحدثتها بما سمعت من رسول الله صلى الله عليه وسلم )) . [43]

ژباړه : چې کله سړی خپلې ښځې ته دڅښاک اوبه ورکړي نو هغه ته ثواب ورکول کېږي. عرباض فرمايي چې ددغه حديث د اورېدو څخه وروسته زه دخپلې ښځې څنګ ته لاړم او هغې ته مې دڅښاک اوبه ورکړې اودرسول الله صلى الله عليه وسلم حديث مې ورته وويلې. ددغه حديث څخه معلومه شوه چې صحابه کرامو به کله ددين او ثواب کومه خبره درسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدله نو هغه به يې خپلو ښځو ته هم سمدستي ورښودل نو معلومه شوه چې صحابه کرامو به دښځو په تعليم او تربيې باندې زيات اهتمام کاوه .

ددغو ټولو احاديثو څخه دا معلومه شوه چې داسلام مقدس دين دښځو په تعليم باندې زيات اهتمام کړی دی خودښځو په تعليم کې داشرط دی چې دهغوې عفت او عزت ته کوم خطر متوجه نه وي اوکه دتعليم په لار کې دهغوې عفت او شرف ته کوم خطر متوجه وي بيا يې تعليم ضرور نه دی. [44]

43: ( رواه احمد الفتح الرباني صفحه ۲۳۳ جلد ۱۶)

44: هماغه ماخذ، هميم کاکړ، الحافظ مولوي شايق احمد، دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې ، ۸۷ – ۹۲ مخ پورې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دریمه برخه : په وضعي قوانینو کې دتعلیم او تحصیل حق ته لنډه کتنه

### لومړی مبحث: دافغانستان د (۱۳۰۶ل) اساسي نظامنامه کې دتعلیم او تحصیل حق

**۱۴ ماده په لاندې ډول صراحت لري**

دتدریس چارې بالکل آزادی دی. دمعارف له عمومي نصاب سره سم دافغانستان هریو تبعه عموماً په عمومي اوخصوصي توګه ،دتدریس لپاره مأذون اومجاز دی. مګر اجنبي اشخاص دهغو افرادو په استثناء چې دتعلیم لپاره استخدامیږي، د افغانستان د مملکت په داخل کې دمکتبونو دافتتاح او اداری اجازه نه لري.

**تشریح او څېړنه**

په دې ماده کې چې دافغانستان یوې تبعی ته ، دمعارف دعمومي نصاب سره سم دمکتب دتأسیس حق ورکړ شوی دی او خارجیانو ته دا حق نه دی ورکړل شوی ، دا د هېواد لپاره یو مفید او خیر اندیشانه حکم دی، مګر یو نوی ابتکار یا یو داسې نوی حق نه دی چې پخوا دی موجود نه وي. پخوا له دې هم دسواد او دعلم علاقمندانو خپله یادخپلو والدینو ، خویشانو، دوستانو او آخوندانو له خوا په دیني او ادبي رشتو کې په عربي ، دري اوپښتو تدریس کېده. دتدریس د مخالفت لپاره کوم حکم موجود نه و، مګر دمستبدو حکمروایانو له ډاره اودا چې په پراخه توګه دعلم له زده کړې سره علاقه نه وه موجوده ، په دې خصوصي حلقو کې انکشاف ونه کړ. کله چې اعلیحضرت داساسي نظامنامې د ۱۴ مادې له حکم سره سم خصوصي مکاتب تشویق کړل. دې مکاتبو کوم انکشاف ونه کړ حتی رسمي دولتي مکاتب چې هلته دتعلیم ټول وسایل وړیا وو او حتی د تحصیل په لوړو صنفونو کې ،ډوډۍ ، کالي او جیب خرڅ هم ورکول کېده، بیا هم مکاتبو مطلوب انکشاف ونه کړ. ددې عدم انکشاف عمده علت له تحصیل سره دخلکو عدم علاقه اوله تحصیل سره د اجتماعي او اقتصادي شرایطو دعدمی علاقې علت د دوی عدم ضرورت کې نغښتې و. دجامعی قریب عموم اکثریت چې بزګران اوکوچیان وو، دمکتب په تحصیل کې اجتماعي او اقتصادي ګټه نه لیدله اوحتی ددوی آني اقتصادي ګټو کې یې نقصان هم راووست. دکلي دلیک او لوست چارې دمسجد دملا په وسیله اجرا کېدی او دی وضعې تردېرو کلونو ادامه لرله خو چې خلکو دمکتب اجتماعي او اقتصادي ګټې په خپلو سترګو ولیدی، دا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت و چې یوه ډله دمکتب فارغ التحصیلان په دولتي ماموریتونو وګمارل شول اودا امر د مکاتبو دانکشاف سبب شو، خصوصاً په هغو سیمو کې چې اقتصاد یې ضعیف و، خلکو دمکتب خواته زیاته هڅه وکړه.

په اروپا کې دتحصیل له انکشاف سره سم، تجارت ، صنعت او تخینک هم انکشاف وکړ او ډیر دتعلیم خاوندان یې جذب کړل، مګر زموږ په هېواد کې دی برخو کې کوم بدلون رانغی او ټول دتعلیم خاوندانو د دولت ماموریت ته مخه کړه او مکتب او تحصیلي مراجع یوازې د دولت دمامورینو دتربیې مراکز شول. په ۱۳۴۹ هـ ش کال کې د مامورینو په قانون کې داشرایط زیات شول چې یوازې هغه څوک مامور کېدای شي چې د ۱۲ صنف (بکلوریا یا معادل د بکلوریا) تعلیم یا له هغه پورته تحصیل کړی وي. دثور انقلاب نظر خپلو انقلابي ابتکاراتو ته داحکم په اول کال کې مات کړ ، مګر ډیر ژر خپلې اشتباه ته متوجه شول او دا حکم یې بیرته نافذ کړ.[45]

**۱۵ ماده په لاندې ډول صراحت لري**

دافغانستان ټول مکاتب دحکومت تر نظارت او تفتیش لاندې دي. حکومت ټول هغه اسباب اوتدابیر چې دافغانستان ټولو اتباعو د ملیه او علیه تربیې لپاره داتحاد او انتظام پرسیاق وي، په دقت به نظر کې نیسی ، مګر تعلیمیه اصول چې داهل ذمه افرادو په مذهبي او اقتصادی امورو پورې اړه لري، نه اخلالېږي[46].

## تشریح او څېړنه

داماده دحکومت له مفیدو تدابیرو څخه چې که چېرې خصوصي مکتبونه منځ ته راغلی وای پرهغو دحکومت تفتیش او نظارت یو ضروري امر ګڼل کېده .

داسې یو حکم پخوا له دې موجود نه و او عامه افکارو هم له هغه سره کوم مخالفت نه درلود. له همدې کبله دی حکم نه کوم شور او نه کوم عصیان مینځ ته راووړ.[47]

---

45: بورګی، قانونپوه، داکتر محمدطاهر،(۱۳۹۸ل) ، دافغانستان لومړنی اساسي قانون ته یوه کتنه ، راه پرچم نشرات ، خپرندوی، ۴۰-۴۲ مخ پورې

46: رسمي جریده ، عدلیه وزارت ، دافغانستان د (۱۳۰۶ل) کال اساسي نظامنامه ، ۱۴ ، ۱۵ مادې.

47: هماغه ماخذ، بورګی، قانونپوه، داکتر محمدطاهر، دافغانستان لومړنی اساسي قانون ته یوه کتنه ، ۴۳ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم مبحث: دافغانستان (۱۳۴۳هـ ش ) کال اساسي قانون کې دتعلیم او تحصیل حق

**۳۴ ماده په لاندې ډول صراحت لري**

تعلیم د افغانستان د ټولو وګړو حق دی او دافغانستان د دولت او اتباعو له خوا وړیا برابرېږي.[48]

### تشریح او څېړنه

ددولت هدف په دې برخه کې داسې مرحلې ته رسېدلې دی چې د افغانستان د ټولو وګړو لپاره پکې د قانون له حکمونو سره سم د ښوونې او روزنې مناسبې آسانتیاوې راغونډې شي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې دپوهنې دمتوازن تعمیم لپاره مؤثر پروګرام وضع او تطبیق کړي.

دښوونې او روزنې لارښوونه او څارنه د دولت وظیفه ده ، ابتدايي تعلیمات د ټولو ماشومانو لپاره ، په هغو ځایونو کې چې وسیلې یې د دولت له خوا برابرې شوې وي، حتمي دي. د لوړو او عمومي تعلیم دمؤسسوجوړولو اوچلول یوازې د دولت حق او وظیفه ده . له دی ساحې ور اخوا د افغانستان اتباع حق لري چې اختصاصي او دلیک لوست ، لپاره ښوونې جوړ کړي. د داسې ښوونځیو دجوړونې شرطونه ، تعلیمي نصاب او پکې د زده کړې شرایط دقانون له خوا ښوول کېږي.

حکومت کولی شي خارجي اشخاصو ته ، دقانون له حکمونو سره سم، د خصوصي ښوونځیو دجوړولو اجازه ورکړي. له داسې ښوونځیو یوازې خارجي اشخاص فایده اخیستلې شي.

ددې اساسي قانون دا ماده کوم نوی مطلب نه دی. اساسي نظامنامې په ۱۴ مه ماده او داساسي اصولنامې په ۲۱ مه ماده کې دتدریس دآزادۍ حق وکړ شوی دی. داساسي نظامنامې په ۸ مه ماده کې داساسي اصولنامې په ۲۰ مه ماده کې داجباري تحصیل وظیفه داتباعو په غاړه اېښودل شوې ده .

---

48: رسمي جریده ، عدلیه وزارت ، دافغانستان د (۱۳۴۳ل) ، اساسي قانون ۳۴ ماده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۳۴۳ هـ ش کال د اساسي قانون له ډیرو تجربو پوره ګټه اخیستې . ابتدایي زده کړه یې په هغو سیمو کې چې دولت وسایل تهیه کړي حتمي ګڼلي اودعالي او عمومي تعلیم لپاره یې د مؤسساتو جوړولو د دولت انحصاري حق بللی دی او له دی ساحې وتلې دافغانستان اتباعو ته یې دا حق ورکړی دی چې اختصاصي او دلوست لیک ښوونځي تأسیس کړي.
دمکاتبو ترمینځ دهماهنګی په منظور دولت په دې برخه کې دوه وظیفې په غاړه اخیستې دي چې هغه : دتعلیم او تربیې لارښوونه او څارنه ده اوبل دا چې د داسې مکاتبو دتأسیس شرایط او دتعلیمي نصاب مسایل دیو قانون په اساس تنظیموي.[49]

## دریم مبحث: دافغانستان د( ۱۳۵۵ هـ ش) کال اساسي قانون کې دتعلیم او تحصیل حق

**لسمه ماده په لاندې ډول صراحت لري:**

دخلکو دخدمت لپاره په اجباري توګه دلومړنیو ښوونو تامین او تعمیم اودعلمي اوفني کادرونو دروزنې اوبشپړتیا په منظور په وړیا ډول دثانوي عمومي، مسلکې او عالي زده کړو پراختیا او پرمختیا.[50]

### تشریح او څیړنه

داحکم باید دخلکو دحقوقو او وظایفو په برخه کې راغلی وای. په دریم اساسي قانون کې دامطلب په خپلو عملي او دامکان وړ ابعادو کې راغلی دی چې، پدې اساسي قانون کې دابتدایي ښوونو تعمیم ته اجباري بڼه ورکوي. دا اصطلاح مور. په لومړي اساسي قانون کې لیدلی شو. په عمل کې ولیدل شول چې دا اجباري کلمه یوه احساساتي او جذباتي څرګندونه ده اوپه اویاوو کلونو کې ابتدایي ښوونه په هېواد کې تعمیم نشوه. نه یوازې دتعمیم هڅې ددې سبب شوې چې خلک له ښوونځي کرکه اونفرت وکړي. کله چې دسپاه سالارمحمدنادرخان دهېواد دنجات لپاره ، یا وروسته داعلیحضرت امان الله خان دسلطنت له رانسکورېدلو ، پکتیاته راغی، دپکتیا خلکو له سپه سالار څخه وغوښتل چې که دې دهېواد په نجات موفق شو

---

49: بورګی ، دوکتور محمدطاهر، (۱۳۷۶ ل) ، دافغانستان دریم اساسي قانون ته یوه کتنه ، خېړوونکی ، د آزاد افغانستان دلیکوالو ټولنه ،۹۲- ۹۳ مخونه.

50: رسمي جریده ، لومړی ګڼه، دافغانستان د (۱۳۵۵ ل) ، اساسي قانون ، ۱۰ ماده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ته به وعده او قول ورکوي چې ښوونځي به نه ورته جوړوي . له دې اجباري توګې د ۱۳۴۲ کال اساسي قانون ، دريم اساسي قانون پوره ګټه واخيستله اودامطلب يې داسې راوړ چې (( ابتدايي تعليمات د ټولو ماشومانو لپاره ، په هغه ځايونو کې چې وسيله يې د دولت له خوا برابره شوې وي، حتمی دی، ( ددريم اساسي قانون په ۳۴ ماده دتعليم د حق په برخه کې ډيره ښه تنظيم شوې او پدې نيت جوړ شوې وه چې داحکم عملي شي مګر دڅلورم اساسي قانون داحکم ، د نورو مادو په شان ، په احساساتي ډول جوړ شوې اودمنظور په توري فشار راوړل شوی دی، لکه ((دخلکو دخدمت لپاره به دعلمي، فنی کادرونو د روزنې اوبشپړتيا په منظور چې د داسې منظورونو ښودلو ته په داسې يوه حق کې چې خلک يې په ټولنې کې لري، ضرورت نه ليدل کېږي.

## څلورم مبحث : دافغانستان د( ۱۳۸۲ هـ ش) کال د اساسي قانون کې دتعليم حق

همدارنګه د افغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون هم دتعليم او تحصيل حق ته قايل دی چې په لاندې ډول دنوموړي حق څخه يې يادونه کړې ده .

### درې څلوېښتمه ماده

زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دی چې د ليسانس تر درجي پوري وړيا د دولت له خوا تأمينېږي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنيو اجباري زده کړو د تامين لپاره اغېزمن پروګرام طرح اوتطبيق کړي او د مورنيو ژبو د تدريس لپاره په هغو سيمو کې چې پرې خبري کېږي لاره هواره کړي[51].

### تشريح او څېړنه

د افرادو يو له اساسي حقوقو څخه چې پر دولت يې لري، دزده کړي حق دی. د نن ورځې ځوان بايد معياري يا ستندرد او معاصر تحصيل وکړي او تر ابتدائيه پوري بايد دولت د کوچنيانو مور او پلار مجبور کړل شي چې په خپلو اولادونو زده کړه وکړي. يعنې تر ابتدائيه پوري ښوونځی اجباري دی. که څوک يې نه کوي بايد مؤيدات پر وضع کړي او تر ليسانس درجې پورې

51: رسمي جريده ، عدليه وزارت، دافغانستان اساسي قانون ، (۱۳۸۲ل) کال ، ۴۳ ماده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده کړه وړیا ده. ښوونه او روزنه پر څو برخو ویشلې ده، د ښوونځي تر مخه او د ښوونځي په وخت کې. د افغانستان نظام عمومي او اختصاصي ښوونه او روزنه لري.

- عمومي ښوونه : چې عمومي ارزښتونه ولري. او پر دریو برخو ده، ابتدائیه، متوسطه او عالي.
- اختصاصي ښوونه: چې په مختلفو مسلکونو کې درس ورکول کېږي. په دا ټولو برخو کې باید جنسیت مراعت شي.

او ټول ښوونځي باید ښارونو ته را نه وستل شي. دولت مکلف دی چې،د وزارتونو او اړوندو ادارو له لارې خلکو ته د زده کړې زمینه برابره کړي[52].

**څلور څلوېښتمه ماده**

دولت مکلف دی د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور، د کوچیانو د زده کړو د ښه والي او په هېواد کې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي[53].

**تشریح او څیړنه**

دا د دولت دنده ده چې دښځو لپاره هم دزده کړي زمینه مساعده کړي او حقوق یې خوندي وي ،هغه زمینه چې نارینو ته مساعده وي هغه ښځو ته هم مساعده کړي.
داچې کوچیان همېشه له یوه ځای څخه بل ځای ته روان وي نو دولت باید د دوی لپاره داسي پروګرامونه جوړ کړي چې دوی د زده کړي له نعمت څخه بې برخي نه شي. دا چې د سواد کچه په هېواد کې ټیټه ده نو دولت باید داسي پروګرامونه طرح کړي چې خلکو ته د سواد اهمیت ور په ګوته کړي او بی سوادي له منځه یوسي[54].

---

52: هاشمي، محمدطاهر، (۱۳۸۹ ل) ، حقوق اساسي و مؤسسات سیاسي، انتشارات فرهنگ. ۸۸ مخ .

53: رسمي جریده ، عدلیه وزارت، دافغانستان اساسي قانون ، (۱۳۸۲ل) کال ، ۴۴ ماده.

54: مدني، سیدجلال الدین ، ( ۱۳۹۳ ل) داساسي حقوق کلیات ، مخ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پنځه څلوېښتمه ماده**

دولت د اسلام د سپېڅلي دين د حکمونو او ملي فرهنګ پربنسټ اوله علمي اصولو سره سم، واحد تعليمي نصاب طرح او تطبيقوي او د ښوونځيو د ديني مضمونونو نصاب په افغانستان کې د شتو اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوينوي[55].

**تشريح او څېړنه**

ښوونيز يا تعليمي نصاب بايد دولت جوړ کړي، ځکه دولت پوهېږي چې په کومو ريشتو کې څومره افرادو ته ضرورت لري. او د پرمختګ لپاره څومره کسان پکار دي.

دنصاب منابع په افغانستان کې څو ډوله دي: د اسلام سپېڅلي دين، ملي کلتور او علمي منل شوي اصول. په نړيواله سطحه د ښووني او روزني سازمان يونيسکو ده،چې د غه اصول جوړوي. چې د يو هېواد ټولنيز نصاب ۷۵٪ بايد نړيوال قبول شوي اصول وي او ۲۵٪ بايد اعتقادي او ملي مسايل و اوسي. هر هېواد چې دغه مسايل تعقيب کړي ډيپلوم يې نړيوال ارزښت لري. زموږ تعليمي نصاب بايد دغه قبول شوي اصول تعقيب کړي چې فارغانو ته نړيوال ډيپلومونه ورکړي[56].

**شپږ څلوېښتمه ماده**

د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو جوړول او اداره کول، د دولت وظيفه ده. دافغانستان اتباع کولای شي د دولت په اجازه د لوړو، عمومي، اختصاصي او د سواد زده کړو موسسې جوړې کړي. دولت کولای شي بهرنيو کسانو ته هم د قانون له حکمونو سره سم د لوړو، عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو د جوړولو اجازه ورکړي[57].

55: رسمي جريده ، عدليه وزارت، دافغانستان اساسي قانون ، (۱۳۸۲ل) کال ، ۴۵ ماده.

56: کوهستاني ، محمدجعفر، (۱۳۹۱ ل) اساسي عمومي حقوق، ۴۴ مخ

57: هماغه ماخذ، رسمي جريده ، عدليه وزارت، دافغانستان اساسي قانون ، (۱۳۸۲ل) کال ، ۴۶ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### تشریح او څېړنه

ټولې تحصیلي او تعلیمي اداري باید دولت اداره کړي ، او د لوړو زدکړو د مؤسسو د قانون مطابق خصوصي افراد هم کولای شي تحصیلي مؤسیسات ایجاد کړي. او عالي تعلیماتو شاملېدل باید د قانون په واسطه تطبیق شي.[58]

### اووه څلوېښتمه ماده

دولت د علم، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح کوي. دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمینوي او په ټولو برخو کې علمي څېړني هڅوي او ملاتړ یې کوي او د هغو له نتیجو څخه د اغېزمني ګټې اخیستل د قانون له حکمونو سره سم عاموي[59].

### تشریح او څېړنه

دولتونه مکلف دي چې خپل فرهنګ چې نړیوال دی، پرمختګ ورکړي او هر هېواد چې د یونسکو غړی وي د هغو فرهنګ او کلتور د نړیوال کلتور یوه برخه ده. چې باید ورته وده ورکړه شي.

- دمعنوي ملکېتونو حقوق دوه ډوله دي: اقتصادي او غیر اقتصادي چې اقتصادي معنوي ملکېت د تجارت په حقوقو پوري اړه لري، چې دا جز په تجارتي فعالیتونو پوري اړه لري او غیر اقتصادي یعنې غیر مادي چې پکښې اختراع، کشف، تحقیق، تصنیف، او ژباړه شامله ده.
- ابداع: نوښت ته وایي چې تاثیر لري.
- کشف: چې زموږ په ساحه کې وجود لري او یو څوک یې په پېدا کولو کامیابه کېږي. کاشف هغه څوک دی چې دا کار یې کړی وي.

---

58: دانش ، سرور، (۱۳۸۹ ل) حقوق اساسي افغانستان

59: هماغه ماخذ،رسمي جریده ، عدلیه وزارت، دافغانستان اساسي قانون ، (۱۳۸۲ل) کال ، ۴۷ ماده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تألیف: څوک چې یو مطبوع شی پېدا کوي. چې ترمخه وجود نلري او که ویې هم لري شکل یې تغیر وکړي. چې دا هم د مؤلف ملکېت دی.
- ژباړه یا ترجمه: د یو متن تغیر په بله ژبه.
- تصنیف: د یو هنری اثر منځته راوړل.

تحقیق: هغه علمي کړنو ته ویل کېږي چې په لټولو کې یو مطلوبه یا پټه نتیجه په لاس راوړي.
تحقیق څو بخشه لري.

۱.مقدمه

۲.متن: څه کار سوی

۳.نتیجه : څنګه تطبیق کړو.

۴ .وړاندیز( پېشنهاد).

دولت د ټولو داسي هڅو ملاتړ کوي چې له مخي یې علم، فرهنګ ، ادب او نوري علمي کړني پرمختګ کوي[60].

## اووم مبحث : دښځو دحقوقو غیر اسلامي قانون کې دتعلیم او تحصیل حق

نوموړې قانون په کال ۱۹۷۹ م کې د Convention on the elimination of discrimination again women cedaw په نوم یعنې د ښځو سره د توپیري چلن دپاي ته رسولو جرګه ګې جوړه کړه چې نوموړې جرګه ګی دښځو دحقوق په نوم قانون جوړ کړ چې دېر مادې اونهه شپېته (۶۹) بندونه لري چې ټول یې داسلام دمقدس شریعت په خلاف دي چې په اوسنیو شرایطو کې په ټولو اسلامي هېوادونو کې هم نوموړې قانون عملي شوې دی همدارنګه په افغانستان کې هم نوموړې قانون په ۱۳۸۰ هـ ش کال کې دامریکا له صلیبې یرغل سره سم پلی کړی شوی دی . د نوموړي قانون دلسمه ماده په لاندې ډول صراحت لري :

---

60: پاچا ، سید هاشمي هاشمي، (۱۳۹۲ ل) ، دښځو حقونه دشرعیت په رڼا کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لسمه ماده په لاندې ډول صراحت لري**

دنړۍ هر حکومت دې داسې هر ډول اقدامات وکړي چې دهغو په ذريعه د زده کړې او تعليم په ډګر کې دښځو په خلاف توپيري چلن پاې ته ورسولی شي.

۱. اکتسابي زده کړې اودخپل حيثيت داوچتولو په خاطر مناسب منصب ته رسېدل، چې دهمدغې موخې له پاره په کليوالي سيمو کې دزده کړې په ترلاسه کولو کې له نارينو سره برابر مواقع بايد ورکړای شي.

۲. په ازموينه ، تدريسي پرسونل ، ښوونځيو او ليسو کې تدريسي وسايل هم بايد نارينه او ښځو ته يوشان اوپه مساويانه توګه ميسر وي.

۳. په تعليم ډګر کې دښځې او نارينه ترمنځ د روايت پر اساس موجود توپير دنصابي کتابونو په نظر ثاني، دتعليمي مراکزو په پار د ودونو (پروګرامونو) کې او دنارينه او ښځو دګډ (مخلوط) تعليم په ذريعه بايد هرومرو هرډول توپيرونه پاې ته ورسولې شي.

۴. دنده ، منصب اودهرډول مرستو ترلاسه کولو زمينه نارينه او ښځو ته په يوشان او برابره توګه بايد برابره شي .

۵. د انړو (بې سواده) له پاره د زده کړې د کورسونو برابرول دنارينه او ښځو دواړو له پاره بايد برابر چمتو کړی شي، څو د دواړو لپاره دتعليمي تشه ډکه کړی شي.

۶. دښځو د زده کړې دنيمګړې پرېښودو دشمېر زياتېدو مخنيوي، د انجونو او ښځو د زده کړې دجاري ساتلو لپاره لازم تدابير نيول دحکومت فريضه او ذمه واري ده .

۷. په لوبو او فزيکل تعليم کې نارينه او ښځو ته په مساوی توګه زمينه برابرول او د اولاد دبندولو (تحديد نسل) په اړه ښځو ته پوهه ورکول او تخنيکي علم ترلاسه کول دنارينه اوښځو برابر حقوق دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم مبحث : دبشرحقوقو نړیواله اعلامیه کې دتعلیم اوتحصیل حق

همدارنګه د نړیوالو اسنادو له ډلې د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه هم په خپله شپږ ویشتمه (۲۶) ماده کې د تعلیم او تحصیل حق مني او په اړه یې وایي:

( ۱. هر څوک حق لري چې د ښوونې او روزنې څخه برخمن شي، ښوونه او روزنه بر سېره په لومړنیو او اساسي پړاوونو کې وړیا وي لومړني تعلیمات باید اجباري وي، حرفوي او تخنیکي زده کړې، عمومیت وموميي لوړې زده کړې باید د برابرو شرایطو سره د ټولو پرمخ خلاصې وي او ټول استعداد او وړتیا په بنسټ له هغه څخه ګټه پورته کړي.

۲. ښوونه او روزنه باید د انساني شخصیت د بشپړ والي او بشري حقوقو او بنسټیزو ازادیو ته د درناوي د زیاتوالي په لوري وهڅول شي، ښوونه او روزنه باید ټولو ملیتونو، توکمونو او دیني ډلو ترمنځ تفاهم، زغم او دوستي پیاوړي کړي او د ملګرو ملتونو هڅې د سولې د پیاوړتیا لپاره پرمخ بوزي.

۳. میندې او پلرونه د خپلو ماشومانو د ښوونې او روزنې د ډول په غوره کولو کې د لومړیتوب حق لري.)61

**اووم مبحث: داقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقوقو دنړیوال میثاق کې دتعلیم او تحصیل حق**

دنورو قوانینو ترڅنګ د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو د نړیوال میثاق په دیارلسمه ماده (۱۳) کې هم یاد حق په رسمیت پېژندل شوی دی او په اړه یې وایي:

۱. د دې میثاق غړي هیوادونه د هر چا د زده کړې او زورنې حق په رسمیت پېژني،د ښوونې او روزنې د هدف په اړه د غړو هیوادونو موافقه دا ده چې ښوونه او روزنه باید انساني شخصیت د پوره ودې، او د هغې احساس او د بشر د حقونو او ازادیو درناوی کولو روحیه تقویه کړي...[62]

د تعلیم او تربیې په برخه کې هم لیدل کېږي چې د اسلام او نړیوالو اسنادو ترمنځ شباهتونه موجود دي او دواړه په دې حق ټینګار کوي.

61 د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه، د ۱۹۴۸م کال د دسمبر د میاشتې د لسمې نېټې د ملګرو ملتونو تصویب، ۲۶ مه ماده.

62 عبدالصبور مبارز، مخکیني مأخذ، ۴۱۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم مبحث: د بشر د حقوقو اسلامي اعلاميه کې دتعليم او تحصيل حق

۱۴۱۱ قمري د محرم ۱۲ مصوبه
د ۱۹۹۰ میلادي د اګست ۱۵ او ۱۳۲۹المریز کال د زمري ۱۵ نېټه په قاهره کې د اسلامي کنفرانس سازمان د بهرنيو چارو د وزيرانو غونډه.

**نهمه ماده په لاندې ډول صراحت لري**

الف) د علم زده کړه يوه فريضه ده او ښوونه په ټولنې او دولت يو واجب امر دی پر دولت باندې لازمه ده چې د هغې لارې چارې او شرايط برابر کړي او هغه په داسې توګه تامين کړي چې د ټولنې خير او ښېګڼه په کې وي او انسان ته موقع ورکړي چې د اسلام د دين او د هستي د حقايقو په اړه معرفت او پېژندګلوي ترلاسه کړي او هغه د بشريت د خير او ښېګڼې لپاره وکاروي.
(د اسلام د سپېڅلي دين د نظره د پوهې طلب د ټولنې پر ټولو وګړو پرته د کومې استثنا څخه فرض دی، ټولنې او دولت ته لازمه ده چې ټولو وګړو ته د زده کړې داسې شرايط او زمينې برابرې کړي چې د هغو په وسيله د ټولنې اړتياوې او اصلاح په هره برخه کې بشپړې کړای شي او د ټولنې هر وګړي ته وخت ورکړي چې د هغې رڼا په ترڅ کې چې زده کړې کوي تر هرڅه ډېر د اسلام دين او د نړۍ د هستې د حقايقو په اړه بلدتيا حاصله کړي او خپله پوهه د بشريت په ګټه وکاروي.)
ب) د هر انسان حق دی چې بېلابېلې دستګاوې د کورنۍ، مدرسې او پوهنتون څخه رانيولې تر هغو نورو تبليغاتي او نورو دستګاوو چې انسان په ديني او دنيايي روزنه کې کوښښ کوي د هغه د انډوليزې او بشپړې روزنې په اړه کې هڅې وکړي او کوښښ وکړي په هغه بڼه چې په خدای يې ايمان او د هغه حقونو او دندو ته يې درناوی پيدا شي د هغه د شخصيت روزنه وکړي.
(ټولنې پوهنيزې او روزنيزې مؤسسې، ښوونځي، پوهنتونونه او ډله ييزې رسنۍ او خپرونې لکه جريدې، ورځپاڼې، راډيو، تلويزيون کورنۍ او نور وسايلو په شمول دنده لري ترڅو د انسان په ښوونه، روزنه د پوهې د کچې په لوړتيا او د ديني او دنيوي موضوعاتو په لاره کې هڅه او هاند وکړي ترڅود خدای په وړاندې د هغه پېژند ګلوي لازياته او ايمان يې په خدای ټينګ شي او درناوی يې د هغوی د حقونو او دندو په وړاندې چې په غاړه يې لري زيات شي.)[63]

---

63: دبشر دحقوقو اسلامي اعلاميه ، د ۱۹۹۰ ميلادي د اګست ۱۵ او ۱۳۲۹لمريز کال د زمري ۱۵ نېټه، ۹ ماده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نتیجه ګیري

په نتیجه کې ویلای شو وداچې اسلام مبارک دین کامل او شامل دین دی او د نورو دینونو سره یې یو توپیر هم همدا دی چې کامل او شامل دین دی د نورو ټولو حقوقو ترڅنګ یې د تعلیم حق هم انسانانو ته ورکړې دی که هغه نارینه وي اوکه ښځینه وي داچې دښځینو لپاره یې بیا شرایط هم ټاکلي دي چې باید ورته زمینه د تعلیم برابره شي چې باید دښځو لپاره دنورو حقوقو څخه علاوه د تعلیم په برخه کې هم باید د اسلامي اصولو په نظر کې نیولو سره زمینه مساعده کړي ترڅو وکولای شي چې په ښه او ډاډه توګه خپل تعلیم ته ادامه ورکړي چې ترټولو یې بیا د ښځې لپاره د اسلامیاتو په برخه کې دتعلیم لومړې حق ورکړی دی ترڅو نورو ته داسلام دعوت ورکوونکې ښځې باید په اسلامي تعلیماتو باندې سمبال وي او همدارنګه په کورکې دخپلو اولادونو لومړنې روزنه باید په اسلامي اصولو سره ترسره کړي چې باید دهرڅه دمخه ورته دتعلیم په برخه کې اسلامي معلومات ورزده کړي ترڅو دټولنې لپاره په اسلامي اصولو برابر اولادونه وړاندې کړي چې اسلام او خپل هېواد ته خدمت وکړي. که هغه نارینه وي اوکه ښځینه...

لکه په قرآن کریم کې الله تعالی فرمایلي دي :

وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ لَطِيفًا خَبِيرًا.[64]

ژباړه : او تاسو زده کوئ د الله هغه ایتونه او حکمت(علم) چې ستاسو په کورونو کې لوستل کېږي، بېشکه الله ډېر باریك بین او ښه خبرلرونکي دي .)

همدارنګه حدیث شریف دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې هکله داسې فرمایلي دي:

( طلب العلم فریضة علی کل مسلم . (رواه ابن ماجة)

ترجمه : طلب دعلم په هرمسلمان که نارینه وي او که ښځینه وي فرض دی . ددي حدیث شریف عبارت جمهور علماء کرامو داسې لیکلې دی:

( طلب العلم فریضة علی کل مسلم ومسلمة )

ترجمه : طلب دعلم په هر نارینه مسلمان او په هرې ښځینه مسلمانې باندې فرض دی .

طلب د علم په هرمسلمان اومسلمانې فرض دی او هریو له دوی څخه مسئولیت لري چې علم او زده کړې وکړي اوپه سرکې له خپل دین څخه ځانونه خبر کړي.

---

64: القرآن الکریم ، سورة الاحزاب ، ۳۴ نمبر آیات.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه هغه میرمنې چې نورو ته لاربښوونه ، وعظ او تبلیغ کوي هغه باید عالمه او پوهه وي ترڅو نورو میرمنو ته دشریعت په رڼا کې بلنه ورکړي اوهغوئ ته د قرآن کریم او احادیثو شریفو په رڼا کې معلومات ورکړي او نیکو لارو ته یې تشویق کړي اوله ناوړه کارونو څخه یې منع کړي.
عالمانې میرمنې دبلنې په برخه کې له نورو څخه ښې پوهېږي اوکولای شي چې پدې لاره کې کامیاب قدمتونه اوچت کړي اوخپله ټولنه په معنوي لحاظ سره هم دترقي لوړ مقام ته ورسوي.
همدارنګه ښځه د یوې میرمنې او مور په توګه دیوې لور او خور په توګه اوپه ټولنه کې د یوه فرد په توګه مسئولیت لري چې علم او زده کړې وکړي او دا د دوې شرعي اوقانوني حق ده ترڅو دخپل ځان کورنۍ او ټولنې لپاره دخدمت وړ وګرځي اوپه دې لاره کې کوټلې ګامونه اوچت کړي.
علم چې الله پاک په نارینوو او ښځینوو دواړو باندې فرض کړي اومسئولیت لري چې علم زده کړې اوخپل اولادونه په علم سره وروزي او په ټولنه کې دیوې عالمې میرمنې په توګه ژوند وکړي او خلکو ته یې ګټه ورسېږي.
ښځینه نه یوازې دا چې علم او زده کړه د دوې حق دی بلکې مسئولیت هم ده او باید زده کړې وکړي ترڅو دعلم په وړانګو سره خپله کورنۍ او ټولنه منوره کړي.
ددې ترڅنګ ښځینه په ښوونه او روزنه کې مهم رول لوبولای شي ، لکه څنګه چې حقوق لري ، مسئولیتونه هم لري چې په سرکې یې باید له خپل ځان څخه پیل کړي خپل اولادونه وروزي زده کړې ورباندې وکړي اوپه ټولنه کې نورخلک د اولادونو د ښوونې او روزنې لپاره وهڅوي چې په خپلو اولادونو باندې زده کړې وکړي او تشویق یې کړي چې خپل اولادونه ښوونځیو او مدرسو ته د زده کړو لپاره واستوي چې زده کړې وکړي اوخپله ټولنه په علم سره روښانه او ودانه کړي.
په ښوونه او روزنه کې له نارینوو څخه دښځینو رول مهم دی ځکه چې ښځې د ماشومانو په خوې او عدت باندې له نارینوو څخه ښه پوهېږي ځکه چې زیاتې میندې وي اوکه چېرې میندې هم نوي په کورنۍ کې د خپلې مور کړنې په یاد لري او له ماشومانو سره په غوره اونیکې طریقې سره په مخ ځي اوهغوئ په ښه شان سره پوهوي اوهم یې تشویق کوي.
تجربې ثابته کړې چې ښځینه ښوونکې له نارینوو څخه ډیرې کامیابې وي غټه حوصله لري اوپه غوره اسلوب سره له شاګردانو سره په مخ ځي اوتشویقي جنبه یې زیاته وي اوماشومان بدون له تهدید څخه هڅوي چې ښوونځي او مدرسې ته په شوق او مینې سره لاړ شي اوخپلې زده کړې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچې ښځينه دومره مهم رول په ټولنه کې د علم دزده کړې په برخه کې ددې څخه ډېر او دوه برابره نارينه هم مسئوليتونه لري چې بايد په ټولنه مهم او مرکزي رول لوبوي ځکه چې د يوې ټولنې ديو هېواد ټول سرنوشت د نارينوو په لاس کې وي که چيرته په يوهېواد کې دنظام واکې د تعليم يافته په لاس کې وي ، نو نوموړې هېواد به خورا پرمختللې او په ډېرو برخو کې به د نورې نړۍ څخه مخ پروړاندې وي او که چيرته په نوموړي هېواد کې دنظام واک د بېسواده اشخاصو په لاس کې وي په دې کې هيڅ شک نشته چې نوموړې هېواد به د نورې نړۍ هېوادونو څخه خورا وروسته پاتې او په ډېرو برخو کې به مخ د نزول په طرف به روان وي .

همدارنګه ددې سره سره دنړۍ او زمونږ دهېواد په وضعي قوانينو کې هم د تعليم او تحصيل د حق څخه په خورا وضاحت او صراحت سره يادونه شوې ده که هغه نارينه وي لکه دافغانستان په لومړۍ اساسامې په څوارلسمه او پنځلسمه ماده کې يادونه شوې ده چې دتدريس چارې بالکل آزادی دی. دمعارف له عمومي نصاب سره سم دافغانستان هريو تبعه عموماً په عمومي اوخصوصي توګه ،دتدريس لپاره مأذون اومجاز دی. مګر اجنبي اشخاص دهغو افرادو په استثناء چې دتعليم لپاره استخدامېږي، د افغانستان د مملکت په داخل کې دمکتبونو دافتتاح او اداری اجازه نه لري.

پنځلمه ماده چې وايي دافغانستان ټول مکاتب دحکومت تر نظارت او تفتيش لاندې دي. حکومت ټول هغه اسباب اوتدابير چې دافغانستان ټولو اتباعو د مليه او عليه تربيې لپاره داتحاد او انتظام پرسياق وي، په دقت به نظر کې نيسی ، مګر تعليميه اصول چې داهل ذمه افرادو په مذهبي او اقتصادی امورو پورې اړه لري، نه اخلالېږي.

ددې ترڅنګ د ۱۳۸۲ کال په اساسي قانون کې هم د درې څلوېښتمې مادې څخه تر اووه څلوېښتمې مادې پورې د تعليم او تحصيل حق په اړه په پوره توګه وضاحت ورکړل شوې دی او د بشر حقوقونړيوالې اعلاميې شپږ ويشتمې مادې هم چې درې بنده لري دتعليم او تحصيل په برخه کې يادونه کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه

القرآن الکریم.
1. ابن سعدون، نای،(۱۳۷۹ ل)،حقوق زن از آغاز تا امروز، ترجمه گیتی خورسند، تهران ، کویر.
2. احمدزی، زاهدي،(۱۳۹۲ل) ، دملګرو ملتونو دښځو دحقوقوقانون داسلام په تله ، امیرکروړ خپرندویه ټولنه. ۱۵۲ مخ .
3. اسدی ، لیلاسادات، ۱۳۸۴ ل ، زنان وقضاوت ، فصلنامه ی شورای فرهنگی اجتماعی زنان، تهران ، کتاب زنان، شماره ۲۸ ، تابستان.
4. امامی، اسدالله وصفایی، سیدحسین،(۱۳۷۰ ل) حقوق خانواده ، تهران ، سمت .
5. امامی، سیدحسن، (۱۳۷۳ ل)حقوق مدنی، تهران ، کتابفروشی اسلامیه، چاپ چهاردهم .
6. آذربایجانی ،مسعود ، (۱۳۸۰ل) ، اشتغال زنان درجامعه، مجموعه مقالات هم اندیشی، ج۲، قم ، دفتر مطالعات وتحقیقات زنان، چاپ اول، پاییز.
7. آقاجانی، مهری، (۱۳۷۷ل)، بررسی فقهی مسئله قضاوت زنان درحقوق اسلام، (آیا زنان حق قضاوت دارند)، حقوق واجتماع، بی جا، بی نا، مهر وآبان، شماره ۱ .
8. بابازاده، علی اکبر وسبحانی ،(۱۳۷۸ل) مسائل ازدواج وحقوق خانواده ، تهران ، بدر ، چاپ چهارم .
***9***. بصیرت،مولوي عبدالولي،(۱۳۹۰ل)،روزنیزه رساله،رسمي عرفي عدالت ته دښځو لاسرسی.
10. بیات، رقیه، (۱۳۸۴ل)، اشتغال بانوان وحق مالکیت ، زن روز، شماره ۲۰۲۴، بی جا ، بی نا ، دی ماه.
***11***. پاچا ، سید هاشمي هاشمي، (۱۳۹۲ ل) ، دښځو حقونه دشرعیت په رڼا کې، دانش ، خپرندویه ټولنه .
12. ثاقب، نقیب الله او پوهیالی تسبیح الله تصمیم ، (۱۳۹۳ ل) اساسي عمومي حقوق ، یار خپرندویه ټولنه.
13. جعفری تبریزی، محمدتقی، (۱۳۷۰ل)،تحقیق دردوظام حقوق جهانی بشر از دیدگاه اسلام وغرب وتطبیق آن دو با یکدیگر ، تهران، دفترخدمات حقوقی بین المللی جمهوری اسلامی ایران.
14. جعفری لنگرودی، محمدجعفر،(۱۳۷۶ ل) ترمینولوژی حقوق، تهران ، کتابخانه گنج دانش، چاپ هشتم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

15.جلیلی ، محمدرضا ،(۱۳۸۴ ل)،جایگاه زن دراسلام ویهودیت، تهران ، بی نا ، چاپ دوم .
16.جوادی آملی ، عبدالله،(۱۳۷۲ ل)،زن درآئینه ی جلال وجمال، تهران ، رجاء.
17.حکیم پور، محمد ،(۱۳۸۲ ل)،حقوق زن درکشاکش سنت وتجدد ، تهران ، نغمه نواندیش ، چاپ اول.
18.خامنه ای ، سید محمد ،(۱۳۶۸ ل)،حقوق زن ، تهران ، انتشارات تک .
19.دانش ، سرور، (۱۳۸۹ ل) حقوق اساسي افغانستان ، خپرندوي ابن سينا پوهنتون.
20.داودی، سعید، بررسی اجمالی ارزش وجایگاه زن دراقوام وملل، نشریه مشکوه النور، تهران دانشگاه اما صادق (ع) ، ش ۱۳، بی تا.
21.داوودی ، سعید ،(۱۳۸۲ ل)،زنان وسه پرسش اساسی ، قم ، مدرسه الامام علی بن ابیطالب، چاپ اول.
22.دوست حمدی، هادی، (۱۳۷۹ ل )،شخصیت زن از دیدگاه قرآن ، تهران ، مؤسسه انتشارات امیرکبیر ، چاپ سوم .
23.رسولي،قانونپوه محمد اشرف ، (۱۳۸۸ ل ) ، تحلیل و نقد قانون اساسي ۱۳۸۲افغانستان اول ټوک ، فریش پرس خپرندویه ټولنه.
24.زعفرانچی، لیلاسادات،(۱۳۸۲ل) ،توصیه های CEDAW، اشتغال ، زنان ، استراتژی های نظام بین الملل، کتاب نقد ، تهران، بی نا ، شماره ۲۹ زمستان.
***25***. شاکر، سیدحبیب،(۱۳۸۹ل)،دبنځوسیاسي حقوق .
26.شرفی، حسین، (۱۳۷۸ ل) ،شهیدمطهری وحقوق زن دراسلام، پزوهش های قرآنی، تهران،بی نا، شماره ۱۷ و ۱۸ بهار وتابستان.
27.صدر، حسن،(۱۳۵۶ ل )،حقوق زن دراسلام واروپا، تهران، جاویدان ، چاپ ششم.
28.فرنچ مارلین،(۱۳۷۳ ل) ،جنگ علیه زنان، ترجمه توراندخت ، تمدن (مالکی) ، بی جا ، انتشارات علمی.
***29***. فرید ،پوهنیارشهلا ،(۱۳۸۹ل) کورنی تاتریخوالی،روزنیزه رساله.
30.قربانی، زین العابدین،(۱۳۶۶ ل) ،اسلام وحقوق بشر، تهران ، انتشارات کتابخانه صدر.
31.کوهستاني ، محمدجعفر، (۱۳۹۱ ل) اساسي عمومي حقوق، مستقبل خپرندويه ټولنه .
32.لیکوالان،دارشاد،حج او اوقافویوشمېر جیدعلما ،(۱۳۹۰ل)،اسلام اوکورنۍ ،دربېیم چاپ.
33.متین دفتر، احمد ، (۱۳۴۸ ل )،حقوق بشروحمایت بین المللی آن، تهران ، بی نا ،.

(c) ketabton.com: The Digital Library


34.محمودی، عباسعلی، (۱۳۷۸ ل )،پژوهشي قرآنی، فقهی وحقوق درباره ی مرد وزن ، تهران ، مطهر.

35.مدني، سیدجلال الدین ، ( ۱۳۹۳ ل) داساسي حقوق کلیات ، دانش خپرندویه ټولنه .

36.نوری، یحیی،(۱۳۴۳ ل)،حقوق زن در اسلام وجهان ، تهران، فراهانی، چاپ دوم .

37.هاشمي، سید اکرم ، (۱۳۹۹ ل) ، دافغانستان داساسي قانون پېژندنه اوتحلیل ، یار خپرندویه ټولنه .

38.هاشمي، محمدطاهر، (۱۳۸۹ ل) ، حقوق اساسي و مؤسسات سیاسي، انتشارات فرهنگ.

***39***. همیم کاکړ، الحافظ مولوي شایق احمد ،(۱۳۸۶ل) ،دښځو دحقوقو څخه دفاع په قرآن او سنت کې، خپرندویه ټولنه ، مدرسة تعلیم القرآن والسنة جلال اباد.

***40***. یاد ، میراحمد ، (۱۳۹۳ ل) ، ښځه او تاریخ ، عبدالمجید مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد .

41.عدلیه وزارت ، رسمي جریده ، (۱۳۹۲ل) ، (۱۰۳) ګڼه ، دافغانستان د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون ، دولتي مطبعه .

***42***. الترمذي، محمد بن عیسی، (۱۴۳۹ ه ق ) سنن ا لتر مذي، مکتبةالمعارف،الریاض.

***43***. الخطیب، امام ولی الدین محمد بن عبد الله ، (۱۳۹۰ ل) ، مشکوة المصابیح، مکتبه سلطانیه،کویټه پاکستان.

***44***. الدمشقي، الامام ابوزکریا یحیی بن شرف النووي، (۱۳۸۵ ل) ، ریاض الصا لحین، مکتبه قاسمیه،کاسي روډ کویټه.

***45***. اعظمی، ظهورالباری، تاج البخاری پښتوشرحه د صحیح البخاری، مکتبه تاج پېښور.

***46***. القرضاوي، دوکتور یوسف، (۱۳۷۷ ل) په اسلامي ژوندانه کی دښځی مر کزیت،لومړی چاپ، ،پېښور.

***47***. مدرس، مولانا حبیب الرحمن، صحیح مسلم مع مختصرشرح نووی(رح)، تاج کمپني،کراچي.

***48***. ډاکټرمجمد دین، تعلیم القران اسانه ټکي په ټکي اوروانه ترجمه،تاج کمپني،کراچي.

***49***. طحان، مصطفی محمد،(۱۳۸۱ل) ښځه ددعوت په کاروان کي،پښتو ژباړه،حبیب الله وردګ،دچاپ ځاي کرکز نشراتي ټولنه.

***50***. مفتي،مجمد شفیع،پښتو تفسیر معارف القران،مکتبه راشد پاکستان اسلام اباد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

51.رواه احمد و النسایی و ابن ماجه و الحاکم والقضاعی فی مسنده مشکوة صفحه ۴۲۱ حاشیه ۴ واورده الذهبی فی الکبائر و ذکره الساعاتی فی بلوغ الامانی شرح الفتح الربانی جلد ۱۴ صفحه ۵۸ الفتح الربانی ج ۱۴ صفحه ( ۵۸) کشف الخفا(ج 1 ص ۳۳۵ ).

52.ریاض الصالحین صفحه (۱۵۵ ) مشکوة صفحه (۴۲۱ )الادب المفرد جلد ۱ صفحه ( ۴۱ ).

53.الفتح الربانی (ج ۱۲ صفحه ۲۳۲ ) ریاض الصالحین صفحه( ۱۵۲ ).

54.مشکوة صفحه( ۴۲۱ )الادب المفرد صفحه( ۴۱ جلد ۱ ) .

55.مشکوة صفحه (۴۲۲ ) ریاض الصالحین صفحه (۱۵۵).

56.الفتح الربانی (ج ۱۶ ص ۲۲۹) مشکاه( ص ۴۰۰ ).

57.مسلم صفحه ( ۴۳۴ جلد ۱ ، بخاری صفحه ( ۷۸۷ جلد ۲ ).

58.متفق علیه فتح الباري صفحه ( ۵۳۲ جلد ۴ )کتاب البیوع و مسلم صفحه ( ۷۷۵ جلد ۲).

59.بخاري صفحه( ۵۷۴ جلد ۲ ).

60.الفتح الربانی (جلد ۱۲ صفحه ۲۲۳ ).

61.ریاض الصالحین صفحه ( ۱۲۸ ).

62.رواه الحاکم في المستدرک والبیهقي فی السنن الکبری.

63.صحیح مسلم صفحه( ۱۴۳جلد ۱ ) سنن ابي داود صفحه (۳۴).

64.الفتح الرباني صفحه( ۲۱۴ جلد ۱۲ ).

65.صحیح مسلم صفحه( ۲۵۵ جلد ۲ مشکوة صفحه ۴۱۰).

66.رواه الحاکم فی مستدرکه و ابو نعیم فی الحلیه و البیهقی. کشف الخفاء(ج ۱ ص ۱۰۷) .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**